# بهرنۍ خندنۍ ټوکې



پوهنمل محمود نظري

# د کتاب پيژندنه

سريزه ................................................................................. ٢
دماشومتوب خيالونه................................................................................. ٤
ځواني، مينه، واده او شک ...........................................................................١٦
د زړښت نښې .......................................................................................٣٤
کمپوټر،برېښنا ليک او نور دوستان يې ..............................................................٤٨
پوليس،مجرم او کازي ..............................................................................٥١
دکاروبارډغه بازی...................................................................................٦٠
دتګ راتګ وسايل ...................................................................................٧٦
بيچاره ډاکټران اوناروغان ..........................................................................٨٤
د زده کوونکو کوډګري..............................................................................٩٤
د سپورت مينه وال.................................................................................١١٠
پام کوه!خطرناکي ټوکي ...........................................................................١١٣
لنډي خو پړړی خبرې..............................................................................١٢٥
ځناوران، مارغان او نور اندېوالان يې ..............................................................١٣٣
دسياست ملنډي ....................................................................................١٥٠
ليونيان، نشه يان او ... ...........................................................................١٦٧

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# سريزه

خندا د ژوند مالګه ده! ربښتيا هم  بې خندا ژوند لکه بې مالګې خواړه دي، آيا تاسو کله هم بې مالګې کتغ او ډوډی خوړلې ده؟!

که ځواب هو وي ، خوند نه کوي همداسې نه ده.

خندا د ربړونو، ستونزو او غوټو د پرانيستلو کيلی او د ټپونو پټی ده.

خندا او موسکا د خلکو زړونوته  لاره پيدا کوی او د زړونو ملکونه تسخيروی او حکمروايی پرې کوي.

د هر اثر ځو واري کتل او ليدل ځوک ستومانه کوي، خو د خندا زيږونکو آثارو خوند او خندا په هروار ويلو او ليدولو سره نور هم زياتيږي.

په ليکلو  آثارو  کې خندا  طنز، هجو، هزل او ټوکو کې نغښتی ده.

طنز:يو ادبی ژانر دی ، چې د سموالی په پار په خندا لرونکی ډول د ټولنې عيبونه اوکميوته ګوته نيسي. د طنز مبنا شوخۍ او خندا ده؛خو خندا يې د خوشالی خندا نه ده، خندا يې ترخه او دردونکی ده؛ نو خندا يې هدف نه بلکې وسيله ده.

هجو:د شخصی غرض له مخې په عيبونو او نواقصو باندې ملنډی وهل دي هدف يې يوازې غندنه او تنبه ده او د مدحې ضد مانا لري.

هزل:د تفريح او خوند لپاره ډيره رکيکه شوخۍ ده هزل د جد ضد مانا لري.

ټوکه :په نا محدوده او عمومي سطحه يوې منځ مهالی شوخی ته وايي چې هدف يې يوازې خوشالي او خندا ده د دې هدف لپاره له هرې وسيلې نه کار اخلي؛ نو هدف يې هم  هغه وسيله ده.



www.tanzona.com

په ټوکو ي کې ښي ټوکې، سپکی ټوکي ، ټینګي ټوکې ....سته.

په دې لومړی ټوک کې د(۵۰۰)نه زیاتي بهرنی خندنيټوکې د لسو زرو نه زیاتو ټوکو نه غوره سوی ټوکې دی. که څه هم ځینې ټوکي یې زموږ درسم ، کلچر او کړو سره اړخ نه لګوی، خو موږ د لویدیزو د بدو او ښو کړو او کلچر سره اشنا کوي ، دا را ښيي چې بهرنیان بیا په څه خاندی ؟ څه په کې بد او څه ښه دی؟ ددی پوښتنو ځواب په دې کتاب کې موندلای سو.

ځینې داسې ټوکې هم په کې سته چې مخکې ژباړل او اړول سوې دي شاید تاسو ته اشنا وي.

زه هیله من یم، چې دا لومړی ټوک مو خوښ سي که تکراري او ناسمی ټوکی یا ویناوي په کې راغلی وي او یا ستاسو خوښې نه سي؛ امید ،چې و مې ښښئ.

ستاسو له توجه نه یو نړی مننه.

په درناوي

پوهنمل محمود نظری

لندن ۲۰۰۵

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# دماشومتوب خيالونه

يو هلک په باسيکل يوه سپين سرې ووهله، سپين سرې په غوسه ورته وويل:

- چې په باسيکل نه پوهيږې ولې يې چلوې؟

هغه ورته په خوشالی وويل:

- په باسيکل پوهيږم؛ خو په زنګ يې نه پوهيږم!

***

ولې دې کوچنی خور ژاړي؟

- زما ساندويچ غواړي!

- د هغې ساندويچ څه شو؟

- هغه ما وخوړ!

***

پلاره! چنجی خوند کوي؟

- البته چې نه، ولې دې دا پوښتنه وکړه؟

- ځکه همدا اوس تا په سلاته کې يو وخوړ!

***

يو هلک چې پلار يې نوی بايسکل ورته اخيستی و خپلی مور ته يې ناري کړې



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

«ګوره موري! نه لاسونه». بيا يې لاسونه پورته کړه.

« ګوره موري ! نه پښې »بيا يې پښې پورته کړ ې او ډب ولوييد.

هلته ولاړو هلکانو ناري کړل:

ګوره موري نه غابښونه!

***

- مورا! زه سوپ نه خورم.

- زه پوهيږم، چې ته يې په پنجه پورته کولای نه شې.

***

مور وزوی ته:

- تا بيا جګړه کړی او دوه غابښونه دی ورک کړي دي.

ماشوم په خوشالی ورته وويل:

- ما نه دي ورک کړي دا دي په جيب کې مې دي.

***

څرنګه دې مور پوه شوه ،چې نه يې لمبيدلی؟

- زما هير شول چې صابون لوند کړم.

***

چې د تام مور کورته راننوتله؛نو تام په ژړا شو او ويل يې زه جان ووهلم!

مور يې ترې وپوښتل:

- څه وخت يې ووهلې؟



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- پرون

-نو اوس ولې ژاړې؟

-زما هیر وه!

***

پلاره! دا رښتیا ده چې مورږ له خاورو نه جوړ شوي یو؟

- هو زویه!

- چې لانده شو بیا ولې نه ختې کیږو.

***

د لندن نه تر نیویارک  پورې په سفر کې یو ناړام ماشوم توله سپرلۍ تر پوزې ورسوله،یو سړی په غوږ کې ورو  ورته وویل:

- ولې بهر لوبې نه کوې!

***

مورا! زه کولی شم  دلته لامبو وکړم؟

- نه دلته شارک شته.

- نو ولې پلار لامبی؟

- هغه بیمه دی.

***

جولې! د ماهیانو ټانک ته لړاوبه واچوه!

- ما پرون لړ وړواچولې هغه یې لا تر اوسه نه دي ښبلې.



www.tanzona.com

***

مور و زوی ته :

ولې دي د عمه په ځای( بستره) کې شرمښکی اېښې وه؟

- څکه مار مې پیدا نه کړ.

***

کوچنی جینی مورته چای دم کړ،مور يې په خوشالی وویل:

- زه نه پوهیدم چې ستا چای دمول هم زده دي؟!

هغې په خندا وویل:

- دا خو دومره کار نه دی؛ اوبه جوش کړه؛ چای ورواچوه؛ بیا یې په جالی صاف کړه؛ خو ما جالی پیدا نه کړه؛نو د مګس کش نه مې تیرې کړې.

مور یې چیغې کړې: هو خدایه!

د مګس کش نه دی چای تیرې کړې؟؟؟؟

لور یې په سره سینه وویل:مه وارخطا کیږه! ما نوی مګس کش نه دی استعمال کړی.

***

لور ې! د کلیزې لپاره څه غوارې؟

- یو نانی هلک.

یو کال وروسته یې د مور ز وی پیدا شو.

بل کال یې پلار د نیک شګون لپاره بیا له لور نه وپوښتل:

- سږ کال په کلیزه کې څه غوارې؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- یو د بیزو  بچی.

***

د یو هلک یو بوټ په پښو او پر سړک رهی وو، یوې ښځې ترې وپوښتل:

- یو بوټ دی ورک کړی دی؟

هغه ورته وویل:

-نه ! ما یوازې همدا یو پیدا کړ.

***

څو میلمانه د یو ښکاري کورته ورغله د کور میرمنې هغوی ته د هوسۍ غوښه پخ کړې وه

کوچنې زوی یې له موره وپوښتل:

- څه شی دې پخ کړې دي؟

پیغلې لور یې وار تر مخه کړ او ویې ویل:

د سخوندر غوښه ده!

پلار یې وویل: نه!

لور یې بیا نارې کړه د سرکوزي غوښه ده!

پلار یې وویل: نه! زه یوه نښه درته وایم: دا هغه حیوان دی چې کله کله  مومور د مینې تاسو  د هغه په نوم یادوي.

هلک په خور چیغې کړې:

تو  یې کړه د سپي غوښه ده.



Copyright: www.tanzona.com

***

پلاره! دا رښتیا ده، چې په افریقا کې هلک او جینۍ د واده تر شپې یو بل نه پیژني؟

پلار: هو داپه هر هیواد کې کیږی.

***

یو یولس کلن ماشوم ویلون غږاوه او سپي یې ورته کوړنجیده.

پلار یې ورناری کړي:

زویه! داسي کمپوز وغږوه چې سپي پرې پوه شي.

***

یو هلک او جینۍ د واده په دویمه ورځ تر مازیګره تر سترګو نه شول، دوستانو یې هغوی لټول.

هغو د یو اته کلن ماشوم نه چې د زوم ورارہ وو وپوښتل:

تا ټام او جولي نه دي لیدلي؟

هغه ورته وویل:

پرون ماښام مې ټام ولید د واسیلینو په ډبلي پسې ګرځیده، ما هغه ته د خپلو واسیلینو ډبلي ورکړ.

- په ډبلي کې څه و؟

- ګلو(سریښ).

***

یو بنجاره د یو کور وره ته ودرید د هغه هلک نه چې هلته په زینو کې ناست و وپوښتل:



Copyright: www.tanzona.com

- پلار دی په کور کې دی؟

- هو!

سړی بیا د زنګ ټوکمي ته ګوته وروړه؛ خو هیچا ځواب ورنه کړ.

سړی بیا هلک ته وویل:

- ته وایي ستا پلار په کور کې دی؛ نو ته ورناري کړه!

هغه ورته وویل:

- زموږ کور په هغه بله کوڅه کې دی.

***

پلاره ! ته په پټوسترګو لاسلیک کولای شې؟

- هو!

- نو په پټو سترګو زما پارچه لاسلیک کړه.

***

ښوونکی: د اور د لګیدو په وخت کې ولې باید ټیټ خلک مخکې او جګ خلک ورپسې ودریږي؟

شاګرد: ځکه چې اوږده کرار سوځي.

***

آیا دا لازمه ده په کلیسا کې ټول چوپ اوسي؟

- بلې! شاید ځیني ویده وي.

***

Copyright: www.tanzona.com

يو سړي د يو کور زنګ ووهه . يو هلک، چې سګريټ يې په لاس کې وو راووت.

- هلکه مور دې په کور کې ده؟

هلک د سګريټ دود پوپ کړ او ځواب يې ورکړ:

- ته څه فکر کوې؟!!!!

***

ښوونکی او زده کوونکی:

- که دوه سويان ولرې او څلور نور ونيسي ، څو کيږی؟

- اوه

- دوه مڼې لرې او څلور نور هم له دوکانه اخلې څو کيږي؟

- شپږ

- شاباس! نو که دوه سويان ولرې او څلور نور ونيسي څو کيږی؟

- اوه.

- دا څنګه اوه کيږي؟

شاګرد په خوشالی وويل:

ځکه يو په کور کې لرم.

***

زده کوونکي او ښوونکی:

- هر چا چې سم ځواب راکړ هغه کولای شي ژر کور ته ولاړ شي!

چا ويل: زه ويده يم!

Copyright: www.tanzona.com

یو زدوه کوونکی ځواب ورکړ:

لوتر کینګ.

- شا باش! کور ته تلای شي.

ښوونکی:

چا ویل:دا مه وایه چي وطن څه راسره کړی....

ماری لاس پورته کړ:

کیندي.

شاباس! کور ته تلای شي.

په دی وخت کي شا ته شورماشور شو ښوونکی شا ته مخ واړوی او ویې ویل:

زه غواړم ددې سپی خوله بنده کړي.

مارک ناري کړې: کلینتن. صیب زه کولای شم کور ته ولاړ شم.

***

یو ماشوم مور ته وویل:

سل ډالره راکړه، چي اسکوټر پري رانیسم.

مور یي ورته وویل: د خدای څخه یې وغواړه!

ماشوم د خدای په نامه یو لیک ولیکه

ډاکي لیک چي د خدای په نا مه و د رییس جمهور دوتر ته یووړ.

رییس جمهور چي لیک ولوست؛ نو پنځه ډالره یي ورواستول.

Copyright: www.tanzona.com

ماشوم چې لیک پرانیست د پنځو ډالرو چیک یې ولید نو یو بل لیک یې د هغه په ځواب کې ولیکه:

ګرانه خدایه! د پیسو څخه مو مننه! پوهیږم چې دا  دی د واشینګټن له لیارې را استولی دی او دولتي غلو د هغه نه (۹۵)ډالره ګرځولي دي.

***

یو هلک بل ته :

- زما د اکا یو پښه د لرګو ده!

- زما د عمه یوه سینه د لرګو ده !

***

یو هلک په برقي زینو ولاړ او لاندی یې په ځیر ځیر کتل.

یوه ترې وپوښتل:خیرت دی؟

- بلی مننه، زه منتظر یم، چې زما لویدلي ژاولې بېرته را پورته شي.

***

زما د اکاد زوی په زیږیدو په  ورځ یې پلار یوویشت ډزې وکړې؛خو تولة ختا شوې.

***

یو ماشوم د الماری شا ته پټ و د مور او د هغې د ملګري خبرو ته یې غوږ نیولی و. د موټر د بریک د نیولی دږغ سره یې مور وارختا شوه او ناري یې کړې هغه دی زما میړه راغي او خپل ملګري ته یې وویل : ورشه د الماری شا ته پټ شه!

ماشوم نوی راغلی سړی ته د الماری په شا کې وویل:

دلته ډیره  تیاره ده، زه داریږم او چیغي وهم!



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

سړي ورته و ویل:پینځه ډالره درکوم چیغې وه وهه!

یو ګړی وروسته یې بیا هغه وخوځاوه او ورته یې وویل:

دلته ډیره تیاره ده، زه ډاریږم او چیغې وهم!

سړی ورته وویل:

دا لس ډالره واخله او چیغې مه وهه!

دا معامله تر پینځوس ډالرو ورسیده

شل دقیقې ورو سته د موټر د تلو ږغ شو او موټر ولاړ.

سړی د الماری له شا راووت او ولاړ.

هلک یو ورځ د مور سره بازار ته ولاړ او ځان ته یې یو باسیکل رانیوی.

مور یې ترې وپوښتل : دا پیسې دې له کومه کړې؟

که ماته نه وایې ورشه کشیش ته اعتراف وکړه ګناه به دې لږ شي.

هلک د اعتراف لپاره کلیسا ته ولاړ په ځانګړي خونه کې ودرید، هلته ډیره تیاره وه ، هلک نارې کړه:

دا ځای ډیر تیاره ده زه ډاریږم او چیغې وهم!

کشیش ورته وویل:

لطفا دا کیسه نوره مه تکراروه !

***

مور او پلار خپل یو دري کلن زوی په برنده کې ودراوه او ورته یې ویل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

-ته ګوره او راپور راکوه چې څوک څه کوي؟

هلک هم لکه خبرونه چې وايي په ويلو شو: هغه دی د پوليسو موټر راغی، د ميشل د کور مخي ته ودريد. د کيڼ لاس د ګاونډی کور ته يو د کتابو الماریَ راغله. ماری بازار ته ولاړه. د جان مور او پلار مينه سره کوي.

مور يې په هيښتيا ناريې کړه:ته هغوی وينې چې مينه کوی؟؟؟؟

هلک :

- نه!

نو له څه نه پوهيږې چې هغوی مينه کوي؟

ځکه چارلی هم لکه زه په برنده کې راپور ته ولاړ دی.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# ځواني، مینه، واده او شک

دتوني معشوقي، چې له توني نه خپه وه . توني ته ولیکل:«زما عکسونه بېرته راواستوه».

توني هغې ته د عکسونو یوه بسته ،چې د نورو ډېرو انجونو عکسونه په کې وو د یوې پرزې سره ورواستوله، چې په هغې کې لیکل شوي و:

زه نه پوهیږم ته کومه یوه یې؟ خپل عکس ترې واخله او نور یې بېرته راولیږه.

***

ته څه فکر کوې زه ښکلې یمه؟

- اجازه راکړه، ستا مخ ته ښه وګورم.

هو !لکه تل د جوز غوندې صاف مخ دي دی.

***

هغه داسې ګنجی دی، چې په لمر کې بې تورو عینکو څوک ورته کتلی نه شي.

***

پلار زوی ته:

ته باید واده وکړې، زه شل کلن وم چې واده مې وکړ!

زوی یې ورته وویل:

تا زما د مور سره واده وکړ او غواړې زه له پردو سره واده وکړم.



www.tanzona.com

***

جورج پر ما ري مين و؛خو جرات يې نه درلود، چې مخامخ ورته ووايي نو په تيلفون کې يې هغې ته وويل:

- ګرانې ! ته غواړى زما سره واده وکړې؟

ماري :خود غواړم ! خو ته څوک يې؟

***

يو ځوان د ډانس په وخت کې د يوې ښکلې جينى نه وپوښتل: څه کار کوې؟

ښکلې جينۍ په خندا خندا ورته وويل: نرسه يمه.

ځوان هلک ورو په غوږ کې ورته وويل : کاشکې زه دى ناروغ واى او ته مې نرسه!

ښکلې جينۍ کټ کټ وخندل او ويې ويل:

دا به معجزه واى. زه په زيږنتون کې نرسه يمه.

***

زه لکه ګل ښکلې يمه.

هو لکه ګولپي!

***

که زه د شور ماشور د ټولنې رييس واى ما به هغې ته يوه غوټه ورکړې واى!

- د هغې شونډانو ته؟

-نه، د هغې جاکټ ته!

***



www.tanzona.com

جینۍ : زه لبسرين نه وهم.

هلک:ځکه نه شې کولی دومره وخت شونډان ودروې چي لبسرين ووهې.

***

يوې ښځې بلې ته :

هغه وخت چې ما خپله ګوته پرې کړه هغه پر ما په غوسه شو.

- پر هغه ډېره ګرانه يې؟!

نه، هغه غوښتل مالګه پرې ودوړوي؛ خو ما نه پرېښود.

***

ولې دې پر مخ کريم ومښل؟

- چې ښايسته شمه!

- ګټه نه کوي همداسې نه ده؟!

***

يوې ښکلې جينۍ خپل آشپز ته وويل:

- چې زما کوټې ته راځې لومړی دروازه ټکوه!

هغه ورته وويل:

- هيڅ فکر مه کوه، زه چي درځم لومړی د کيلی له سوري نه ګورم.

***

- زما ميرمن زما عبادت کوي.-

- له څه نه وايي؟



www.tanzona.com

- هغه د ورځې درې واري زما مخې ته سوځلې ډوډی ږدي.

***

زما میرمن لکه نارينه ډوډی پخوي!

- مقصد دې څه دی!

- هغه په سختې له ستوني تیریږی.

***

- زما میره وايي: زه ډیره ښکلې يمه!

-رښتیا چې مینه ړنده ده.

***

هلک و جینی ته :

زه پیسې لکه جان، جایداد لکه میشل او موټر لکه ټوني نه لرم؛ خو ته راته ګرانه يې او غواړم واده راسره وکړې.

جینی:په ما هم ګران يې خو تا ویل چې جان څه لری؟!

***

هغو په خوشالی واده سره وکړ.

هو، هغه خوشاله و او هغې واده وکړ

***

ستا میره اشپز دی؟

- هو!



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

- اجازه راکړه دومره ووایم ، چې هغه پرون سلاته سوځلې وه.

***

ته هر وخت کولای شې زما میرمن وپیژنې!

- څرنګه؟

اسانه ، پسې ګوره چېرې چې دوو ښځو خبرې کولې، هره یوه چې وتښتیږده هغه بله زما میرمن ده.

***

تا زما لپاره ډوډۍ توده کړه؟.

- هو ګرانه! پېشې له مازیګر راهیسې پرې ناسته ده.

***

زما میرمن لکه مونالیزا ده؟

- ستا مقصد دا دی، چې هغه لکه مونالیزا ښکلې موسکا لري.

- یا هغه داسې ډنګره ده لکه د مونالیزا د تابلو کاغذ.

***

ولې هغه ښځه هر وخت چې خپل میړه ویني تورې عینکې ږدی؟

- ځکه د هغه د ګنجي سر نه راغبرګ شوی نور د هغې سترګې خوږوي.

***

میرمن او میړه په مسافرت روان وو ، میړه يې وویل:

وبښه ما خپل تولې پیسې ورکې کړې.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

میرمن یې په چوک چوک ورته وویل:

«خومره بد کار وشو، زه به تا پسې ډیره خپه شم».

***

ستا خور ډیر غلیظ میک اپ کوي.

- له څه نه وایې؟

کله چې ټوکه ورته ووایم پینځه دقیقې وروسته یې موسکا مالو میږي.

***

ته فکر کوی ژوند بې خونده دی؟

- له هغه وخت چې ته مې پیژندلی یې، هو.

***

ناوې په لومړی شپه پخلنځي ته ولاړه او پینځه دقیقې وروسته د اوښکو په ډکو سترګو بیرته راغله.

زوم: څه خبره ده؟

ناوې په داسې حال کې چې سلګۍ یې وهلې وویل:

ما د یخ ټوټې په اوبو کې واچولې، چې پرې یې وینځم؛ خو هغه ټولې ورکې شوې

***

څه کوې چې میره دی لیکونه ونه وایې؟

د فولدر(دوسیې) نوم لیکم: د ماشین د استعمال طریقه.

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

ولې دې د واده ګوته په غلطه ګوته کړې ده؟

- ځکه د غلط سړي سره مې واده کړی دی.

***

یوه ښځه نیمه شپه راویښه شوه ږغ یې ونیوه د ژړا ږغ یې تر غوږه شو د زینې لاندې یې ولیده چې میړه یې ولاړ دی او ژاړي،دې پوښتنه ځینې وکړه:

- څه خبره ده؟

هغه ورته وویل:

ستا  به یادیږي چې شل کاله مخکې ستا پلار راته وویل:

که زما د لور سره واده ونه کړې شل کاله دې بندي کوم.

- هو په یاد مې دي.

د سړي ژړا نوره هم  زور واخیست او ویې ویل:

نن شپه له جېله خلاص شوم!

***

درې تنو د خپلو میرمنو د کنترول په اړه خبرې کولې:

یوه ویل: هغه بله شپه مې میرمن په خاپوړو ما ته راغله.

- ښه نو څه یې درته ویل:

ویل یې: د کټ له لاندې نه راووځه لکه نارینه جنګ راسره وکړه!

***

که غواړې د میرمنې د کالیزې ورځ هېره نه کړې دکالیزې په ورځ واده ورسره وکړه .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

***

میرمن په وره کې مېره ته ولاړه وه مېړه یې نشه او پر کمیس یې د لبسرین داغونه هم لیده کیده کورته راغی.

مېرمنې یې په ډېره غوسه وپوښته:

دا وخت د سهار اته بجې د څه لپاره راغلې؟

سړی په ماته خوله وويل:

د سهار د چایو لپاره.

***

پلار دري کلن زوی ته پیسي ورکولي او ورته یي ویل : پیسي په هغه ژیر بکس کي واچوه!

اتلس کاله وروسته هلک پوه شو چي هغه ژیړ بکس د ګاز میټر و.

***

یوه جینی د شپي کورته رانغله او مور ته یي تلیفون وکړ:

- زه کارولین یمه، ښه یمه، مه پرېشانه کېږه! د شپي مي موټر خراب شو،تلیفون هم نه و، ګوره بیا شورماشور ونه کړی اوله غوسي مه لیونی کېږه!

- دا غلط لمبر دی زما د لور نوم کارولین نه دی!

- ګوره موري ما لومړی درته وویل مه لیونی کېږه!

***

یو سړي خیل ګاوندی په موټر کي تر دوتره رساوه د هغه ښځه یي وپوښتل:

- ستا داسي ښځه چي غټ نس ولري خوښېږي؟



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

-نه،

-ستا داسې ښځه لکه کلنګان غاښونه ولري خوښيږي؟

- نه،

- ستا داسې ښځه چې تيان يې تر نامه رسيږی خوښيږي؟

- نه.

نو لطفا خپل لاسونه زما د ميرمني له اوږې ليرې کړه!

***

يوې جينی خپل بای فريند خپل کورته مېلمه کړ، چې د پلار او مور سره يې ېيژندګلوي وشي.

پلار يې د هغه نه وپوښتل:

د ژوند لپاره څه لری؟

- هو ، جايداد لرم.

جينی نارې کړې: ډيرې لوکسې مغازې لري

- چيرې ژوند کوې؟

- په کلي کې کور لرم.

جينی نارې کړې: لوکس اپارتمان لري.

- په راتلونکي کې څه پلان لرې؟

- غوارم پر مختګ وکړم.

جينی نارې کړې: هغه يو رستورانت رانيسي.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

په دې وخت کې هلک وپرنجل.

د جینی پلار    ورته وویل:

ریزش دې کړیدی؟

جینی نارې کړې:یا سینه بغل دی.

***

میرمني چغه کړه:وېښ شه!

- څه خبره ده!

-بیا په خوب کې خبرې کوې ځان کنترول کړه!

- راځه یو قرارداد وکړو ماته په وېښه د خبرو حق راکړه چې په خوب کې یې ونه کړم!

***

یوې ځوانې جوړې په یوه هوټل کې کوټه  ونیوله.

ښځې و میړه ته وویل:« کوره خسک نه وی».

سړي د کټ لاندېې، د الماری شا ته، د غالی لاندې وکتل،د فرش لاندې یوه تخته په خلورو پیچو ټینګه شوې وه هغه یې په جیبي چاقو خلاصه کړه او له کړکی نه یې لاندې وغورځوله.

په سبا د هوټل خاوند ترې وپوښتل:

کوټه  مو ښه ده؟

سرویس سم دی؟

سړي ورته وویل: ځومره ډیرې پوښتنې کوې؟



Copyright: www.tanzona.com

د هوټل خاوند ورته ووېل:ځکه پرون شپه ستا د کوټې لاندی پر ناوی او زوم د کوټې قندیل راوولوید.

***

يوه ښځه بل ته :

ما خپل مېړه مليونر کړ!

مخکي له واده څه شی و؟

- بيلونر

***

يو هلک یوې جینی ته :

ما خپله هغه ناوکی ورکه کړه چي زما سره ويده کيده،ته زما سره ويده کيږې؟!

***

ته لکه زما دریيمه ميرمن غوندی ښکارې!

-څو میرمني لرې؟

- دوې

***

که سپی د شا له دروازې نه غيیږی او ميرمن دې د مخې دروازې نه شور جوړ کړی ته چا ته لومړی ور خلاصوې؟

- سپي ته ځکه هغه د ننوتلو وروسته غلی کيږي.

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

ښځه تل په رياضی کې مشکل لري!

خيل عمر نيموی،د خپل کالو بيه دوه چنده کوي او د دوستانو د ميرمنو د عمر سره پينځه کاله جمع کوي.

***

يو سړی يوې جينی ته نژدې شو او هغې ته يې وويل:

-زما ميرمن ورکه ده!

-زه څه وکړم!

-زما سره خبرې وکړه!

- ولې؟

ځکه هروخت چې زه د يوې ښکلې جينی سره خبرې پيل کړم هغه پيدا کيږي.

***

د تيلفون زنګ راغی د وکيل پخوانی ميرمن وه:

- وکيل شته؟

سکرترې ورته وويل: هغه پرون مړ شو.

لس دقيقې وروسته بيا د تليفون زنګ راغی، بيا د وکيل پخوانی ميرمن وه:

- وکيل شته؟

سکرترې ورته وويل:

ما درته وويل هغه پرون مړ شو.

لس دقيقې وروسته بل تليفون راغی،بيا د وکيل پخوانی ميرمن وه:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

زه کولای شم د وکیل سره خبرې وکړم؟

سکرترۍ په غوسه ورته وویل:

ما درته وویل هغه پرون شپه مړ شو، ولې دومره تلیفونونه کوې؟

د وکیل پخواني مېرمنې وویل:

- زه پوهېږم هغه مړ دی، ما ته خوند را کوی چې دا خو واری واورم.

***

یومجرم دوه کاله وروسته له جېله وتښتید دا خبر له تلویزیون نه هم خپور شو.

دا چې پولیس په هغه پسې وه ؛ نو هغه اړ شو چې د ډیرې اوږدې لارې کور ته ځان ورسوی.

ور یې وټکوی، مېرمنې یې چیغې کړې:

مرداره! دوه ساعته کیږی له جېله راتښتیدلی یې تر اوسه چیرې وې؟!!!!

***

جان پلاړ ته توپانچه او میرمنې ته عطر د نوی کال تحفه رانیول او په یوه پرزه یې مېرمې ته ولیکل:

متل دی وایي په ځان یې واهه او په ما فکر کوه.

او په غلطی یې دا پرزه د توپانچې سره پلاړ ته ولیږله.

***

زما خور د لیمو په جوس مخ مینځي.

- د تعجب خبره نه ده چې هر وخت تروشه مالومیږي.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

***

لور: مورې ! جورابې دې وباسه ډيرې ګونځې شوې دي.

مور: زما جورابې نه دی په پښو.

***

يو سړی د ليرې سفر نه راغی د کور مخې ته يې خپل زوی په يوه نوې بايسکل سپور وليد؛ نو پوښتنه يې ترې وکړه:

دا بايسکل دې له کومه کړ؟

زوی يې ورته وويل:

- پيسې مې پيدا کړې.

پلار يې وويل: دا امکان نه لري دومره پيسې دې پيدا کړې وي!

رښتيا ووايه؟

- چې ته نه يې هغه د بانک منيجر هره شپه زمونږ کره راځي او ما ته شل ډالره راکوی او وايي: ورشه چکر ووهه، ما هغه ټولې کړې او بايسکل مې پرې رانيوه.

***

د کور زنګ ووهل شو.

سړی ورپرانيست . خواښې يې وه.

- څو ورځې درسره پاتې کېدای شم؟!

- خدای دې راوله او دروازه يې ببرته وترله.

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

مارک د خپل ملګري د کور زنګ ووهه، مېرمن يې ور پرانیست ، هغه يې کور ته وباله، جان په تشناب کې وو، مېلمه له انتظاره ستومانه شو، د جان مېرمن ته يې وويل:

څه ښه راوتلی اندام لرې هغه را ښکاره کړه سل ډالره درکوم!

هغې لږ فکر وکړ بیا یې یو تی هغه ته وربنکاره کړ.

هغه بیا ورته وویل: بل يې را ښکاره کړه سل ډالره نور درکوم! هغې بل تی هم ورښکاره کړ هغه سل ډالره نور هم ورکړه .

هغه ورته وویل: زه ځم کار لرم جان ته ووایه مارک راغلی و

جان چې له تشنابه راووت د مېرمني نه يې وپوښتل:

مارک څه شو؟

مېرمنی يې وویل:هغه ويل زه تلوار لرم چې جان راووت ورته ووایه مارک راغلی و.

جان ورته وويل:

ښه زما دوه سوه ډالره دي څه کړه؟ هغه زما پوروړی و د پیسو راوړلو لپاره مې را غوښتی و

***

زما مېرمن ډېره درواغجنه ده!

هغې پرون تليفون وکړ، چې هغه د شپې د ماري کره ده حال داچې زه د هغې کره وم.

***

يوه جينۍ چې لمن یې لنډه وه او غوښتل يې بس ته پورته شی؛ خو پورته کېدای نه شوه؛ نو د لمني زنځير یې لږ کښته کړ بيا يې هڅه وکړه؛ خو ونه شوه؛ بیا يې لاس بغل ته کړ لږ نور یې د لمني زنځير ښکته کړ؛ خو بيا يې هم ونه شوای کړای چې بس ته پورته شي



www.tanzona.com

په دی وخت کې له شا نه دوه لاسونه دا بس ته پورته کړه؛ دې په ډېره غوسه شا ته وکتله یو زوړ سړی یې ولید ؛ هغه ته یې وویل:

ما ستا ښځه ددې کړو تمه نه لرله.

زوړ سړي ورته وویل:

ما هم ستا ښځه دا تمه نه لرله  چې د پتلون زنځیر دی درې وارې را ښکته کړ.

***

مایک په اعتراف کې کشیش ته وویل:

- دیوی بدې ښځې سره ویده شوی یم ما ته عفو وکړه.

کشیش ورته وویل:

هغه ناتاشا د شا د کوڅې ده؟

- نه .

- ماری د فارم ده؟

-نه.

- فیریل د کلیسا ده؟

- نه .

- مارګریت د تولنیز دوتر ماموره ده؟

- نه.

مایک وروسته د اعترافه له ځانګړی بکس نه راووت او په خوشالی یې خپل ملګري ته وویل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

لس نور نوی ادرسونه مې پیدا کړل!

***

یوې جینۍ خپل بای فرینډ کورته مېلمه کړ او خپل پلار او مور ته یې ورووپېژانده.

خو د هلک باد پرې شو.

پلار یې هغه په سپي تاوان کړ.

هغه خپل سپي ته چې «روور» نومیده وویل:

روور‌ه بهر ووځه!

د هلک بل باد پرې شو.

د جینۍ پلار بیا ناري کړل:

روور‌ه د باندی ووځه!

خو درېیم یو یې چې لوړ غږ یې درلود په کوټه کې یې انګازه وکړه.

د جینۍ پلار په غوسه سپي ته وویل:

- روور‌ه! بهتره ده چې ووځې کنه نو دا ټوله په تا تاوانیږي.

***

یو سړی د واسلین د کمپنۍ لپاره اعلان کوي ؛ کلي ته ولاړ د یو کور ور یې وټکاوه او یوې ښځې ته یې وویل:

واسلین کولای شی د ټپ، چاودي.... لپاره استعمال کړې.

- آیا تاسو په مینه کې هغه استعمالوی؟

ښځې ورته وویل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

هو د دروازې کولپ پرې لرم، چې ميره مې رانه شي.

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د زړښت نښې

سپین ږیری او کشیش:

- زه (۸۱) کلن یم ، واده مې کړی شپږ اولادونه لرم او دیرش لمسیان لرم، پرون مې یوه (۱۸)کلنه جینۍ ولیده پرې مین شوم.نور خوب او خوراک نه لرم....

- ښه شوم، مجکې هم کله اعتراف ته راغلي یاست؟

- نه ، ځکه زه یهود یم.

- نو ولې ما ته وایې؟

- زه دا هر چا ته وایم زه لږمون خوږین عاشق یم.

***

یوه زړه جوړه په ځای کې پراته وه مېړه یې ویده و مېرمن یې لا ویښه وه. هغې خپل مېړه راویښ کړ اوورته یې وویل:

- زما لاسونه ونیسه! سړي یې لاسونه ونیول او بېرته ویده شو.

هغې بیا هغه وخوځاوه او ویې ویل:

-ما مچو کړه!سړي هغه مچو کړه او بیرته ویده شو.

ښځې بیا هغه وخوځاوه او ویې ویل:

- زما غاړه په غاښ کړه!

سړی په غوسه له ځایه ولاړ شو.



www.tanzona.com

- چیرې ځې؟

-ځم له تشناب نه خپل غابښونه راوړم!

***

یو زوړ ناروغ هر وخت د شپې په دوو بجو، د سهار په پینځه بجو.... ډاکټر ته تلیفون وکاوه او دوا به یې غوښتله.

د خدای مارونه دی دا زوړ سړی مړ شو، ډاکټر شکر ونه وکړه ، چې د هغه له شره خلاص شو ولې د قسمت کار دی په سبا ډاکټر هم مړ شو او دوستانو یې هغه د زوړ ناروغ تر خنګ ښخ کړ، لا یو ګړی نه وو تیر شوی زوړ ناروغ تابوت وروټکاوه او ورته یې وویل:

- کوم شی د چنجانو لپاره نه لری؟

***

یو سپین ږیری او سپین سرې ډاکټر ته ورغلل. ډاکټر د سپین ږیري د کتو وروسته په شک د هغه له میرمنی نه وپوښتل:

- هغه اوس ښه دی؟

هغه وایی، چې سهار مې د تشناب دروازه خلاصه کړله؛ نوملایکو څراغ راته ولګاوه او چې راوتم بیا یې چراغ مړ کړ.

سپین سرې چیغې کړی:

- هو، نه ! هغه بیا په یخچال کې بولې کړې دي.

***

یو اتیا کلنه جوړه ډاکټر ته ورغله او غوښتل یې چې میرمن یې کوچنی په نس کړی

ډاکټر یو بوتل ورکړ چې د بولو نمونه راوړی.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

په سبا دواړه راغلل او ډاکټر ته يې وويل:

ما لومړی کيڼ لاس. بيا ښی لاس، زما ميرمنې لومړی ښی لاس، بيا ځپل کيڼ لاس ، بيا ما خوله، بيا هغې ځپله خوله؛ خو د بوتل سر خلاص نه شو.

***

يوې زړې ښځې د ځپل ميړه سره موټر وانی کوله چې پوليس هغوی راوګرځول او سړی ته يې وويل:

-ولې دومره تيز ځې؟

هغه ځپلې ميرمنې ته چې کڼه وه به زوره وويل:

وايي ولې تيزه روانه يې؟لايسنس دی راکړه!

- هغه وايي لايسنس دې راکړه!

پوليس لايسنس وکوت او ويې ويل:

ښه تاسو د کارولينا ياست!

زه څه موده هلته وم او هلته د يوې ډيرې بيشرمې ښځې سره اشنا شوم.

ښځې له ميړه نه وپوښتل:

هغه څه وايي؟

هغه په زوره ورته وويل:

زه سوچ کوم هغه تا پيژني.

***

د يو سپين ږيري ځخه د توخې په وخت کې مصنوعي غاښونه ولويدل او مات شول اوډيره يې خوا بده شوه او ويې ويل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

بل سيټ به له کومه کړم!

د هغه يو ملګرى ورته وويل: چورت مه وهه زه به سبا يو بل سيټ د وررور ښخه درته راوړم. او بله ورځ يې له وروه يو سيټ غاښونه ورته راوړه.

سپين ږيري په ډيره خوښى ورته وويل:

ډيره مننه ! زه نه پوهيدم چي وررور دی د غاښ ډاکټر دی.

ملګري يې وويل:يټ هغه ډاکټر نه دی هغه  مرده شوی دی

***

ستاد مېړه  وروستى هيله څه وه؟

هغه ويل: ددي کيک يوه ټوټه راکړه.

تا ورکړه؟

- نه ، ما کيک د هغه د فاتحي د ميلمنو لپاره پوخ کړى و.

***

درې سپين ږيري د هيروالي په پار ډاکټر ته ورغلل:

ډاکټرد يوه نه وپوښتل:

دوه ضرب دوه څو کيږي؟

هغه ورته وويل:۱۹۴.

ډاکټرد دويم نه وپوښتل:

هغه ځواب ورکړ:۶۵

ډاکټرد درېيم نه وپوښتل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

دوه ضرب دوه څو کیږی؟

هغه ځواب ورکړ : څلور

ډاکټر په خوښۍ وویل: شاباس! څرنګه پوه شوې؟

- ډیر ساده د ۱۹۴ نه مې ۶۵ منفي کړه

***

ډاکټر یوې ښځې ته وویل:

ته شپږ میاشتې نور ژوند لرې.

-او خدایه څه وکړم!

- ډاکټر ورته ویل:

- د یو محاسب سره واده وکړه.

ولې هغه زما ژوند اوږدوالی شي؟

- نه ، د هغه سره ژوند اوږد درته مالومیږي.

***

دیوې ۶۵ ښځې زوی وزیږید او دوستان یې په ناباورۍ د هغې لیدو ته راغلل او د روغبړ وروسته یې ترې وغوښتل،چې هلک ووینې:

- هغې ورتـهوویل: اوس نه

شل دقیقې وروسته بیا ځینو هیله وکړه:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

کولای شو هلک ووینو؟

- اوس نه

- نیم ګړی وروسته بیا دوستانو غوښتنه وکړه هلک کتلای شو؟

هغې ویل اوس نه.

دوه ساعته

وروسته یې دوستان بې حوصلې شول او ویې پوښتل:

- نو څه وخت یې لیدلای شو؟

- مور باید د هغه تر ژړا پورې انتظار وکړو.

- ولې؟

- ځکه زما هیر دی ،چې مې هغه چیرې ویده کړی دی.

***

یوه زړه ښځه ډاکټر ته ورغله او د نه حاملګی ګولی یې وغوښتې.

ډاکټرورته وویل:په دی سن کې دا ګولی څه کوې؟

- د ښه خوب لپاره!

- څرنګه؟

دا مې د لمسې د ا ورنج په جوس کې اچوم او کراره ویده کیږم.

***

د زړښت نښې:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

زاړه لومړی خپل نوم هیروي ، څوک نه پیژني، وروسته یې هیریږی چې د پتلون زنځیر وتړي او وروسته وروسته یې بیا هیریږي چې خپل زنځیر شکته کړي.

د غوړونو وېښتان یې تر سر ډیر وي

هر ځای یې درد کوی هغه ځای  یې چې درد نه کوی بیا کار نه کوی، ښځې یې خوښیږي، خو نه پوهیږي چې ولې.

چې ویده شي خلک  فکر کوی مړ دی.

بېله سیکسه ویدوه کیدای شي خو نه بې عینکو.

***

یو کوچني هلک او انا یې د بڼ څخه د بڼ پاني تولولي هلک یو چینجی ولید، چې له یوه کوچني غار څخه راووت؛ نو انا ته یې وویل:

که دا چینجی بیرته دې کوچني غار ته ننباسم پینځه ډالره راکوې؟

انا یې  وویل: هو،

هلک کوټې ته ننوت پر چینجي یې د وېښتانو سپرې وواهله؛ چینجی سیده شو او هغه یې بې کومه ربړه په غار ننویست.

انا یې پینځه ډالره ورکړه او په خندا خندا کوټې ته ننوته نیمه ګړی وروسته راووته او پینځه ډالره یې نور هم لمسي ته ورکړه.

هلک ورته وویل: انا تا خو مخکې یو وار پینځه ډالره راکړه!

هغې په خندا ورته وویل: دادې د نیکه له خوا دي.

***

یو سړی د لامبو حوض ته ولاړ؛خو نیکر یې هېر شوی وو؛ شاوخوا یې وکتل هېڅوک نه لیدل کېده؛ نو یې بې له نېکره  حوض ته ورټوپ کړ؛ د لامبو وروسته راووت  هلته



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

یې دوې زړې ښځې ولیدې؛ چې د ده خوا ته راځي ده هم په بیړه یو سطل؛ چې هلته پروت وو  واخیست او ځان ته یې ونیوی او د خوشالی یې یوه ژوره سا وېستله.

یوې ښځې ورته وویل:زه کولای شم ستا مغز ولولم.

ځوان هلک وپوښتل : رښتیا! نو زه اوس څه سوچ کوم؟

هغې په خندا ورته وویل:

 ته اوس فکر کوې دا سطل بیخ لري.

***

یو فرانسوی د مېرمنې او خواښې سره افریقا ته په سفر ولاړ.

زړې ښځې د هر څه او هر شي نه شکایت او مسولینو ته یې ښکنځل کول او لور یې ورسره تاییدوله ( د اب  و  هوا، هوټل، خلکو، پولیسو او هیواد ته ) .پولیسو دوی ونیول او بندی یې کړل او کازي هر  یوه ته د پېنځوس پېنځوس لښتو جزا وټاکله.

دوی ته وویل شول د جزا نه مخکې کولای شي یو خواست مومنؤ.

مېرمنې یې وویل: یوبالښت مې پر شا وتړئ دهغې پر شا یې بالښت وتاړه او پېنځوس لښتې  یې پر پښو او ملا ووهله.

 د خواښې نه یې وپوښتل: ته څه غواړې؟ هغې چې د لوریه پښو باندې د لښتو چیغې په یاد شوی . نو یې وویل:

یو بالښت مې پر ملا او بل مې پر پښو وتړئ.

ددې وار هم تیر شو

د سړی نه یې وپوښتل:

ته څه  خواست  لرې؟



Copyright. www.tanzona.com

هغه وويل: دا يوه ښځه مې پر پښو او دا بله مې پر شا وتړه او د پينځوسو لښتو پر ځای مې سل لښتې ووهئ.

***

د نيويارک څخه تر ميامي په الوتنه کې يوه زړه ښځه د يو تجار څنګ ته ناسته وه او هغه ته شله وه:

ته يهود يې؟

- نه ، نه يم مورا!

- زه باور لرم ، چې يهود يې!

- ستا لپاره وايم ښه يهود يم.

زړې ښځې سر تر پايه تر نظر تير کړ او ويې ويل:

نه درواغ وايې لکه يهود نه ماليومېږې!

***

يوه زړه ښځه د لومړی ځل لپاره له کلي نه ښار ته راغله په يوه لکس هوټل کې يې ځای ونيوه د هوټل يو کارکر يې بکس ورسره واخيست او لفت ته ننوتل.

کارګر ددې بکس کېښود

ښځې نارې کړې :ګوره ځوانه!زه زړه يمه خو ساده نه يمه دا کوټه ډېره کوچنۍ ده کړکۍ هم نه لرې، هوا کښ هم نه لرې او بل دا چې بستره هم نه لرې.

کارګر ورته وويل: دا کوټه نه ده دا لفت دی

ښځې ورته نارې کړې: ما د کوټې پيسې ورکړې نه د لفت.

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

دوه زاړه په رستورانت کې ناست وه او د يو بل سره يې خبرې کولې:

يوه ويل : ميرمن مې چتله ده چينجان لري.

نو ولې ورسره ژوند کوې؟

- څه وکړم زما ماهيان خوښ دي او هغه ډير چنجان لري.

***

يوه زړه جوړه ډاکتر ته ورغله.

ډاکتر د ناروغ نه چې کوڼ وو وپوښتل:

کميس دې وباسه!

هغه مخ خپلې ميرمنې ته کړ او اشاره يې وکړه : ډاکتر څه وايي؟

هغې په زوره ورته وويل : هغه وايي کميس دې وباسه.

بيا ډاکتر ورته وويل:

جرابې دې وباسه.

ميرمنې يې ورته په زوره وويل:

- جرابې دې وباسه.

ډاکتر يې ميرمنې ته وويل: د بولو او مواد غايطه نمونه يې راوړه!

سپين ږيري و خپلې ميرمنې ته اشاره وکړه چې څه وايي؟

هغې ورته وويل:

هغه ستا نيکر غواړي!

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

دوو وړونو د مور سره یو ځای ژوند کاوه دوی یوه پیشو هم درلوده. یو  ورور یې د یوې اوونی لپاره کلي ته ولاړ او درې ورځې  وروسته یې کور ته تیلفون وکړ:

- څه خبره ده؟

-ورور یې ځواب ورکړ: پیشو مړه شوه!

مسافرورور یې وویل:

- تا باید داسي نه وای ویلي ، هغه ما ته ډیره ګرانه وه.دې خبری زما پر اعصابو ډیر بد تاثیر وکړ.

تا باید ویلي وای: چي هغه بام ته ختلي وه ما اطفاییې ته تیلفون وکړ هغوی راغلل هغي ته یې تور خپور کړ هغه یې ونیوله خو هغه بیا وتښتیده بیا مو هڅه وکړه ؛ خو هغه له بده مرغه له بامه ولویده او مړه شوه، پوه شوې!

- بلې!

ښه ودی نه ویل مور څرنګه ده؟

- هو هغه بام ته ختلې وه....

***

ددې لپاره ، چي خپل شکل وساتي لکه زما  انا د ورځي پېینځه کیلو متره ځغله.

په پېینځه ویښت کلنی کي همداسي وه لکه په ۶۵ کلنی کې اوس د ۹۷ کلنه ده هغه ډول ده.

هغه چیرې ده؟

- نه پوهیږم له پېینځه ویشت کلنی نه ورکه ده.

***



www.tanzona.com

دوه زاړه مينان چې د روح سره یې دخبرو مهارت هم درلود وعده سره وکړه که هر یو مړ شو بل به یې د روح سره تماس نیسي.

د بده مرغه نارينه یې مړ شو او میرمنې یې یوه اوونۍ وروسته د (سينس) له لیارې تماس ورسره ونیوی.

ما اورې جو!

- هو بلې لیوران زه ستا ږغ اورم.

ډیر خوشاله شوم، چې ستا ږغ اورم، څه حال او احوال دی؟

- شین اسمان دی،نرم باد چلیږي، ښایسته لمر دی.

توله ورځ څه کوې؟

- چې لمر راوخېژي سبانهارې کوم بیا تر غرمې مینه د غرمې ډوډې وروسته لږ دمه کوم بیا مینه بیا دماشام ډوډې خورم او بیا ویده کیږم

ښځې په هیښتیا و پوښتل: ښه جنت دا ډول دی؟

- زه په جنت کې نه یم، زه په ایرزونا کې سوی( خرګوش) یم.

***

یو سړی په تشناب کې پر ترازو ولاړ او نس یې لاندی کښیکاږه.

میرمنې یې فکر وکړ، چې وزن لږوي؛ نوورته یې وویل:

زه فکر کوم فایده نه کوي.

مېړه یې وویل:

د لمبر د لیدو لپاره بله چاره نشته.

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

دارلینګ سبا زما د مور کلیزه ده یو څه ورته خوښ کړه. د هغې برقي شیان خوښیږي.

- برقي څوکی ورته واخله!

***

هغه کومه ښځه ده چې پوهیږي میره یې تولہ شپه چیرې تیروی او دا هیڅ نه وایي: کونډه.

***

یوې ښځې یو سندوک د چپرکټ لاندی ساته میره یې هر وخت ترې پوښتل:

- په سندوک کې څه دي؟

خو دې هیڅ نه ویل. د واده په ۲۵ مه کلیزه کې یې میره ته وویل:

ته غواړې ددې سندوک په راز پوه شې .

هغه وویل :

هو.

- هر وخت چې ما تا ته خیانت کاوه ما یوه دانه جواری سندوک ته اچاوه.

میره یې سندوک پرانیست هلته دوه دانې جواراو دیرش زره ډالره وه.

میره یې د دوو دانو جوارو په لیدو خوشاله شو او ویې ویل:

دا دوی دانې بد نه دي؛ خو دا دیرش زره د څه شی پیسې دي؟

- چې سندوک به ډک شو مابه هغه پلورل.

دا هم بدې پیسې نه دي.

***

Copyright: www.tanzona.com

تا خپله دوا تر لامبو وروسته وخوړه؟

- نه د لامبو د اوبو تیرولو وروسته د دوا لپاره ځای نه وو.

***

یوه ښځه درملتون ته ورغله او وې ویل:

- تاسو غتې بوغی پلورئ؟

- هو.

- زه غواړم وګورم هغه څوک پیرودي.

***



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

# کمپيوټر،برېښنا ليک او نور دوستان يې

يو پوليس د يوې ښځې څخه وپوښتل:

-څو کاله مخکې دلته ايلين(د فضا مخلوق) راتله تا کوم يو ليدلی دی؟

-هو!

- تاسو پوليسو ته خبر وکړی دی؟

-يا! ما د هغه سره واده وکړ.

***

روبوټ:ستا ملګری وايي زه ليونی يم!

الين:چټياټ! د هغه پيچونه سست شوی دي.

***

د کمپيوټر کمپنی خپل وروستی ماډل ننداري ته ايښنی وو او اعلان يې وکړ هر څوک کولای شي تري پوښتني وکړي؟

يو تجار، چې د پلار يې ډير ميراث ورته پاتي و؛ له کمپيوټره وپوښتل:

- زما پلار چيرې دی؟

کمپيوټر ځواب ورکړ:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- ستا پلار د شيکاګو په پارک کې کارکوي.

تجار ناري کړي:دا کمپيوټر خراب دی زما پلار مړ دی.

د کمپيرټر انجينر ورته وويل: تاسو خپل سوال په بل ډول ترې وپوښتئ، چې کمپيوټر ښه پرې پوه شي.

تجار وپوښتل: زما د مور ميړه چيري دی؟

کمپيوټر ځواب ورکړ.

هغه مړ دی ؛ خو ستا پلار د شيکاګو په پارک کې کار کوي.

***

يو کاناډايي په رخصتي کې فلوريډا ته ولاړ او ميرمن يې د تجارت په اړه په لندن کې وه دواړو پلان جوړ کړ چې سبا به په ميامي کې سره يوځای شي.

سړی چې ميامي ته ورسيد؛ نو خپلې ميرمنې ته يې يو بريښنا ليک وليکه؛ خو د آدرس ورقه ترې ورکه شوې وه نو د خپلې حافظې څخه يې کار واخيست يو توری يې غلط کړ او بريښنا ليک يې د يودټولنيزو چارو د کارمند ميرمنې ته چې دوې ورځې مخکې مړ شوی و ورسيد.

هغې چې سکرين ته وکتل يوه چغه يې وکړه او بېسده شوه.

د کورنۍ غړي پرې راټول شول او سکرين ته يې وکتل هلته ليکل شوي و:

زه همدا اوس راورسيدم، هر شی تيار دي سبا ته به ډيره مينه ستا انتظار کوم.

***

ولې روبوټ نه وېرېږي؟

-اعصاب يې د وسپنې دي.



www.tanzona.com

***

ولې روبوټ په خپله خوله آهن روباه مبتلولې ده؟

- غواړي چې ښکلی مالوم شي

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# پولیس،مجرم او کازي

کازي د غا ښو ډاکټر ته قسم ورکړ: چې غاښ دی باسم! ټوله باسم او بېله غاښه بل شی نه باسم.

***

کازي :درې میرمنې دې زهری پوښکیو له خوړولو له امله مړې او ځلورمه دې د لامبو په دم کې ډوبه شوه همداسې نه ده؟!

بندي: هو صیب! خو د هغې پوښکۍ نه وه خوښه.

***

یو سړی د پولیسو دوتر ته د شکایت لپاره ورغی:

- مورې ځلور وړونه په یوه کوټه کې ژوند کوو ، زما مشر ورور دوه پیشوګانې لري او دویم ورور مې درې سپیان لري او دریم ورور مې یوه وزه لري، نو په کوټه کې ډیر بد بوی دی زه غواړم په دې اړه مرسته را سره وکړئ.

پولیس:« ستاسو کوټه کړکۍ لري؟

سړی:«بلی صیب دوې کړکۍ لري»

پولیس: نو ولې د کوټې کړکۍ نه خلاصوی چې بوی ورک شي.

سړی: څه! که دا کار وکړم زما سل سره کوترې به والوزی.

***

په امریکا کې یې یو سړی په برېښنايي څوکۍ اعدام وی.کازي ترې وپوښتل:



Copyright: www.tanzona.com

خپل وروستی غوښتنه ووایه ، چې پوره یې کړم!

هغه وویل: زما لاس ونیسه!

***

ولی دې ټکر وکړ؟

دلته لیکلی دي: ودریږه! وګوره! او واوره!

نو زه ودریدم ومې کتل او غوږ مې ونیوه.

***

پولیس: مخکې مې ستا مخ بل چیري لیدلی دی؟

مجرم:یا ، صیب زما مخ تل زما د غوږو په منځ کې وي.

***

د امریکا د ایف-بی -آی، سی-آی - ای او پولیسو تر منځ د جنایتکارانو د نیولو په اړه ازموینه وه . جمهور رییس غوښتل دوی وازمایي چې کوم یو بریالی دی؛ نو یو سوی(خرګوش) یې په ځنګله کې خوشی کړ او امر یې وکړ هغه پیدا کړی:

لومړی یې د سی-آی - ای کارکوونکی ځنګله ته واستول:

هغو د ځنګله له ټولو ژویو او نباتاتو څخه پوښتنې وکړې او درې میاشتی وروسته یې راپورټ ورکړ،چې سوی له ځنګله نه تښتیدلی ده.

دویم ایف-بی -آی وار شو هغو ټوله ځنګله ته اور واچوه او را پور ټ یې ورکړ چې سوی له خپل جنایته پښیمانه شوی ده

او دریېم د پولیسو وار شو هغوی ولاړه یو ګړی وروسته یې یو تور ایږ چې په ډیرو وهلو تک شین شوی و راوست.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

تور ایږ ناري وهلې؛ بلې زه قسم خورم چې زه تک سپین سوی یم.

***

یو سړي دمو تر چلولو په مهال کوم شی یې تر موټر لاندی کړ نو هغه یې په یوه ټوټه کې ونېچه او د هغه خاوند ته یې راوړ او ویې ویل:

- زه خواشیني یم غواړم د هغه ځای ډک کړم

- سمه ده! د موږکانو په نیولو کې څرنګه یې؟

***

پولیس: ستا میرمن دو مایله هاخوا ستا له موټره لویدلي ده

موټروان: شکر خدایه ! ما ویل لکه چې کوڼ شوی یم.

***

یوې ښځې پولیسو ته د خپل میره د ورکیدو راپورټ ورکوی:

عمر ۳۵ کاله ، غټې توري سترګې، شیږ فټه او شپږ انچه قد، تور چنګ چنګ وېښتان، پهلوان ۱۸۵ پونده وزن، په ادب خبرې کوي، ماشومان ډیر پر ګران دی...

خو ګاونډی ښځې نیوکه پر وکړه چې هغه خو د ۶۵ کاله عمر،ډنګر، پینځه فټه قد، پوچخولی... دی.

ښځې ورته وویل:

زه پوهیږم خو زه نه غواړم هغه بیرته راشي.

***

کازي: دا د کالو دوکان تا غلا کړی دی؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

مجرم: بلی صیب!

کازي: ولې؟

-صیب میرمني مې کالي غوښتل!

کازي دوسيې ته وکتل او هغه ته يې وويل:په يوه شپه کې څلور واری يودوکان ته د غلا لپاره ورغلی يې؟

-بلې صیب! د میرمنی می هغه کالي نه خوشيدل.

***

يوموټر چې ۱۲۰ مايله ګړندی روان و پولیسو هغه ته لاس ورکړ:

پولیس: ولې دومره ګړندی رهي يې؟

پر ما ناوخته دی زه غواړم ژر کور ته ولاړ شم که دی سم دليل راته ووايه ايله کوم دی.

موټر وان له لږ چورت وروسته وويل: درې اوونی مخکې زما میرمن د يو پولیس سره وتښتيدله ما چې ته تر شا وليدی ما سوچ وکړ هغه ته يې او هغه بيرته ماته ستنه کوی نه ځکه ګړندی شوم.

***

د يو پولیس د کار لومړی ورځ وه د يوه پخواني مامور سره د دندی خواته ولاړ د مخابرې له لياري ورته وويل شول چې په ۳۵ سړک کې غلا شوی ده.

هغه په چټکي مو ټر راوګرځاوه، سيرين يې چالان کړ او ۳۵ کوڅې ته يې ځان ورساوه هلته ګنه ګونه وه نو خلکو ته يې وويل:

ځئ خپلو کورونوته!

خلکو يو بل ته وکتل او خپاره شول



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

نوی پولیس خپل همکار ته په فخر وکتل.

زاړه پولیس ورته وویل:

- ته سم یې؟

- ولې!

دا د بس ګاډي تمځي دی.

***

درو ځوانانو پولیسو ته د شاملیدو درخواست ورکړ چې یو یې یهود، بل یې ایټالوی او دریېم یې پولنډی وو.

د پولیسو مشر له یهود ي نه و پوښتل:

چاعیسی مر کړ؟

هغه ځواب ورکړ:

رومیانو.

- سم ځواب دی.

له ایټالوی نه یې وپوښتل:

چا عیسی مړ کړ؟

هغه  وویل :

- رومیانو.

- سم ځواب دی.

بیا یې له پولنډی نه وپوښتل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

چا عيسى مړ کړ؟

هغه وويل: ډاډه نه يم!

چې کورته ولاړ خپلې ميرمني ته يې وويل:

باور به ونه کړی په لومړی ورځ يې يوه د راز ډکه د قتل دوسيه راکړه چې قاتل پيدا کړم

***

په دوبلين کې يو موټر د پوليسو له خوا ودرول شو.

پوليس : تاسو نشه ياست؟

موټر وان : بلی! پينځه پيکه وډکا مې غرمه ښبلي ده؛ بيا مازيګر مې شيږ پيکه وسکي د يوه اشنا سره وڅښله؛ ماښام مې دولس پيکه برندی ستاسو ځای دی خالي وي له يوې پی مخي سره وڅښل او چې را تلم يو بوتل جين مې د جنګ د يو ملګری سره وڅښل ښه خوند يې وکړ ځای دي خالی وو.

پوليس: معذرت غواړم له موټره کوز شه غواړم ستا سا تيست کړم!

هغه ورته وويل:

ولې زما په خبرو دي باور نه راځي؟

***

د يو ښځې موټر غلا شوی وو چې موټر يې پيدا شو نو هغه نارږ کړې

زما د موټر کلچ نشته ، اکسيليټر نشته، بريک نشته...

پوليس ورته وويل:

تاسو د موټر په شا سيټ کې ناسته ياست.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

***

دسي- آي- ای یو تن په کار وو درې تنه د انټرویو لپاره ورغلي وه چې دوه یې نارینه او یوه یې ښځه وه .

د پولیسو مشر یو نارینه ته یو ټوپک ورکړه او هغه ته یې وویل:

ورشه په هغه کوټه کې ستا میرمن ناسته ده هغه ووله

هغه ورته وویل : صیب زه دا کار نه شم کولای

دویم نارینه هم انکا روکړ

وار چې د ښځې شو هغه ته یې ټوپک ورکړ او ورته یې وویل: په هغه کوټه کې ستا میره ناسا دی ورشه هغه ووله.

ښځه چې کوټې ته ننوتله رښتیا میره یې هلته ناست و نو ټوپک یې د میره ټیک ته ونیوه اوماشه یې کش کړه خو ټوپک تش وو نو څوکي یې پورته کړه او هغه یې دومره په سر وواهه چې مړ شو

***

د وکیل سپي د قصاب له دوکانه غوښه یووړه قصاب وکیل ته ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه:

که د چا سپی د دوکانه غوښه غلا کړي نو د خاوند څخه یې تاوان اخیستی شم؟

وکیل ورته وویل:

- هو بلی!

- بنه نو لس ډالره راکړه ستا سپي زما له دوکانه غوښه غلا کړی ده.

وکیل پیسي ورکړی.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

سبا د قصاب دوکان ته  د قانونی مشوری د فیس ۲۵۰ ډالره بیل ورسید.

***

تروریستانو یو الوتکه چي وکیلان یې لیږدول یرغمل ونیول او پولیسو ته یې اخطار ورکړ

که زموږ خواست ونه منل شی موږ هر ګړی یو یو خوشی کوو.

***

د ښه او لوی وکیل تر منځ توپیر څه دی؟

ښه وکیل په قانون پوهیږی او لوی وکیل کازي پیژني.

***

څرنګه پوهیږي چي وکیل درواغ وایي؟

چي ښونډان وښوریږي.

***

دوه وکیلان د بانک په کتار کي ولاړ وو چي لس تنه غله راغلل پیینځه یې د مشتریانود جیبونو په لټولوشول او پیینځه یې دننه بانک ته ننوتله.

مخکی له دې نه چي غله وکیلانو ته ورسیږي یو وکیل بل وکیل ته سل ډالره ورکړه او هغه ته یې وویل: واخله  پور دی مننه !

***

زه مینه لرم انګریزی زده کړم خو نه شم کولای نو په بدل کي مي د بغل وېښتان اوږده کړل .

***



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

پولیسو یو  هلک کازي ته راوست:

کازي هلک  ته وویل: ولې دې د کتابځی مشر په چاقو وواهه؟

- ما کتابونه غوښتل هغه راته ویل: دا کارت ستا نه دی او ته څه سند لري چې د نیویارک یې؟

***

یوتن چې یوه  غټه الماری یې پر اوږو اخیستی وه یو ټکسي ته لاس ورکړ او هغه ته یې وویل:

موږ دو تنه  څه سامان وړو لږ مرسته راسره وکړه!

هغه ورته وویل :

بل ملګری دې چیری دی؟

- هغه دننه د ګرانو شیانو پسي ګرځی.

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# دکاروباردغه بازی

پر ستیج باندی سندرغاړې ډیره خپه ښکاریده.

یو تن له بل نه وپوښتل:

- دا ولې خپه ده؟

- هغې ته اته غونچې ګلان راغله!

- دا باید لا خوشاله شوی وای!

- دا ځکه خپه ده ، چې هغې د لسو غونچو ګلانو پیسې ورکړي وې.

***

یو پښ( آهنګر) هغه هلک ته چې کار یې غوښت وویل:

که ریښتیا دې دا کسب زده دی، نو یو چکش جوړ کړه!

هلک له بازاره یو ښه چکش رانیوه او پښ ته یې وربنکاره کړ.

پښ چکش ولید او ورته یې وویل:

- ښه اوس کښېنه او سل نور راته جوړ کړه!

***

یوکارمن د تنخواه ډېر والي غوښتنه کوله.د کارخانې مشر ورته وویل:

یو کال ۳۶۵ ورځې دی؛ په یوه ورځ کې د کار وخت اته ساعته دی؛چې د یوې ورځې درېیمه کیږی ،یاني( ۱۲۲ )ورځې کیږی ؛په کال کې ۵۲ اوونی شته چې په هره



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

اوونۍ کې شنبه او يکشنبه او په کال کې څلور د بانګ رخصتی دی او مورږ کار نه کوو.

ته ګوره شکر باسه !چې په کال کې ګر سره دوې اوونۍ کار کوی لا د تنخواه د ډيروالي ناري هم وهې.

***

د يوتجار د کار لومړی ورځ وه.

ورووتکيده،

تجار ژر د تيلفون غوږونی پورته کړ او په خبرو شو.

هو،هو،هو سل زره ډالره.... زما سلا ده.

بيا يې د راغلي سړي نه وپوښتل:

-څه امر او خدمت؟

هغه ورته وويل:

زه تيلفونچی يم غوارم تليفون ونښلوم.

***

يوهلک غوښتل لکه خپل پلار تجار شي؛ خو پلار يې غوښتل لومړی هغه وازمايي؛ نو هغه يې بام ته پورته کړ او ورته يې وويل:

هر وخت چې ما درته وويل ټوپ ؛ نو ته ټوپ کړه!

پلار يې د يو- دوه – درې په ويلو سره وويل:

-ټوپ!

هلک هم ټوپ کړل او له بامه ولويد لاس او پښه يې مات شول



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

پلار يې له بامه نارې کړې!

دا دی لومړی سبق دی ، چې د چا په خوله به نه کوی!

***

دا رښتيا ده چې ستا پلار يو معجزه يې کارګر دی؟

هو! دا معجزه ده چې هغه کار کوي!

***

پيرودونکی:د کروکوډايل بوټونه لري؟

پلورونکی: ستاسو د کروکوډايل د پښو نمبر څو دی؟

***

يو تن خياط ته وويل:

-دا دريشي ديې زما له پوستکي نه هم تنګه جوړه کړې ده.

-هغه ورته وويل :ياني څه؟

هغه ځواب ورکړ: زه کولی شم په خپل پوستکي کې سم کښينم؛ خو په دې دريشي کې سم نه شم کېناستلی.

***

يو تن د رستورانت والا ته

- دوې وروستي هګۍ او يوه سوځلې ډوډۍ راوړه!

- موږ يې نه لرو!

- ولې پرون مو درلودل.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

***

آمرو کارمن ته :

- ته بله جمعه رخصتی غواړی؟

- بلی صیب!

- واده کوې؟ د کوم بې عقله سړي لور ستا سره واده کوي؟

- ستا لور صیب!

***

وزیر: ولي دې خپله سکرتره منفکه کړه؟

رییس: د ناروغی له امله!

وزیر:ولي هغه ناروغه وه؟

رییس:نه،د هغې کتو زه ناروغ کړم.

***

هغه مار چې دولت ته کار کوي څه وايي؟

دولتي مکار!

***

یو ویترنرد سهار په څلورو بجو د تیلفون په زنګ له خوارہ خوبه راویښ شو. لاندی پوړته ولاړ او غوږی یې پورته کړه

د هغې خوا ورته وویل شول:

زه بښنه غواړم! چې له خوبه مې را ویښ کړې!

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

هغه ورته وویل:

په هر صورت اوس ویښ یم څه امر او خدمت .

هغه ورته وویل : نه، نه ښښنه غواړم

***

رییس او کارګر:

- ولې نن بیا ناوخته راغلې؟

- نن مې واده وو. صیب!

- ډیر ښه! نور بیا دا تکرار نه شي.

***

د يو برقي د کار لومړی ورځ وه خپل شاګر د ته يې چې په زينه ختلی وو وويل:

- داسپین لین د هغه تور سره وصل کړه!

شاګرد د امر سره سم هغه دوه ويرونه سره وتړل.

استاذ : بدن خو دی ونه ريږديد؟

شاګرد: نه!

استاذ :نو هغه بل ته لاس مه وروړه هغه مثبت دی

***

مشر: بیا ولې ناوخته راغلې؟

کارګر:وبښه صیب ! نا وخته له خوبه راکیناستم

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

مشر:ته باید زنګ لرونکې ګړی واخلي!

کارګر: مارانیولې ده صیب! خو زموږ په کور کې نهه تنه ژوند کوي او ساعت  موږه اتو کوک کړی دی.

***

مینجر ولیدل، چې د یوه رانیونکې او کارګر شخړه ده رانیونکی  په لوړ غږ ویل:

زه بیا راځم! او له مغازې ووت او ور یې په ز وره وواهه.

منیجر، کارګر ته په ډیره غوسه وویل:

څو واري مې درته ویلي دي چې رانیونکی تل رښتیا وایي

کارګر: هر ډول چې تاسو وایاست صیب ! خوهغه ویل، چې منیجر مو بې غوږه خر دی زه نه پوهیدم چې هغه رښتیا وایي.

***

آمر : که غواړی دلته کار وکړی پاکي او سوتره کې باید زده کړې، زموږ پاکي ډیره خوښه ده، آیا تاسو د راتګ په وخت کې خپلې پښې په هغه فرش ، چې د ور مخې ته اوار دی پاکي کړې؟

نوی کارګر: هو صیب!

آمر: او بل داچې زموږ درواغ نه دی خوښ. هلته د وره مخې ته د پښو د پاکولو فرش نه شته.

***

زما د ورور د کار د استعداد په اړه یو ټیسټ وشو.

- پایله یې څه وه؟



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- تقاعد.

***

یوډم په هر کار نیوکه کوله. که به چا ویل موټر رانیسم هغه به ورته وویل: نه بابا ولې بایسیکل نه رانیسي.

یو تن ویل : زه واتیکان ته ځم.

اوهلته د پوپ دیدار کوم.

ده ورته وویل:ولې فرانسي ته نه ځې او برج ایفل نه ګوری ځکه د پوپ دیدار څه اسانه کارنه دی.

نو دواړو د پوپ په لیدو سل ډالره شرط وتړئ.

سړی ولاړ او یو میاشت وروسته د ډم دوکان ته ورغی او ډم ته یې وویل:

- ما پوپ ولید او هغه خبری هم راسره وکړې

- چیري دي ولید او څه یې درته وویل؟

- زه سهار د کلیساو مخې ته ولاړ وم هغه ما ته رانژدې شو او ما ته یې وویل:

- بنه نو څه یې درته وویل:

- هغه زما سر ته وکتل او ویې ویل:

آیا د ځمکې پر مخ داسې یو مردار خوره ډم هم شته؟

***

یو سړی ډم ته وویل:

- زما د سر ویښتان له شا لنډ او د مخې له خوا یې اوږده پرې کړه او په نزله کې مې خو



www.tanzona.com

ټاپوګان جوړ کړه!

- زما په اند زه دا کار کولای نه شم!

- ولي هغه بله مياشت دي وکړ.

***

ډم د يو تن مخ دريې ځايه پرې کړ سړی ورته وويل:

- يو ګيلاس اوبه خو راکړه!

ډم ورته وويل: ستا په خوله کي وبينتان دي لړ صبر وکړه!

- زه هغه نه ځبنم غواړم يوه شم چي ستونی خو مي ليک شوی نه دی.

***

يو ماشوم اوسړی د ډم دوکان ته ورغلل، ډم د سړي د سر او ږيرې له سمولووروسته د ماشوم د سر په جوړولو شو.

سړی ولاړ شو او ويي ويل:

زه يو سګريټ اخلم او له دوکانه ووت.

ښه ډير وخت تير شو خو سړی رانه غی

ډم چي لا د ماشوم په سر اخته وو ماشوم ته وويل:

- لکه چي د پلار دی هير شوي او نه را غی؟

هلک وويل:

هغه زما پلار نه دی، زه تيريدم هغه له لاسه ونيولم او ويي ويل: راځه سردي وړيا جوړ کړم.



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

***

یو پک د ډم په دوکان ي ناست و او ویل یې:

زه غواړم خپل وېښتان شنه کړم خو د درد تاب یې نه لرم که زما وېښتان لکه خپل وېښتان غوندی کړی پینځه زره ډالره درکوم

ډم ژر خپل وېښتان وخرییل.

***

یو سړی په بار کې ډیر پرېشانه ناست و، یوتري وپوښتل:

- وبښه! ډیر پرېښانه ښکاري؟

- دوی میاشتې مخکې مې مور مړه شوه او (١٠٠٠٠) ډالره یې میراث راته پرېښود

- خدای دې وبښي.

- یوه میاشت مخکې مې پلار مړ شو هغه(٥٠٠٠٠)ډالره یې میراث راته پرېښود

- ډیر متاسف یم. دوتنه دی په یوه میاشت کې له لاسه ورکړی دی.

- یو اوونی مخکې مې عمه مړه شوه هغې (١٥٠٠٠)ډالره میراث راته پرېښود.

- بلکل وحشتناکه ده ، چې درې تنه د کورنی نژدې غړي په دوو میاشتو کې مړه شی . ډیر وحشتناکه ده !!!

سړی یو سوړ اسوېلی وکېښ او ویې ویل:

- هو خو په دې اوونی کې هیڅوک تر اوسه نه دی مړه شوی.

***

د برقي جارو استازی یوه د جارو نمونه د اعلان لپاره کور په کور ګرځوله او په یوه کلی کې یو کور ته ورغی هلته یې پر غالی باندی د آس خوشایی وشیندل او ویې ویل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- که دا جارو دا ټوله پاک نه کړل زه دا ټوله خورم.

د کور میرمني ورته وویل:

کیچپ ورسره غواړې؟

- مطلب مو څه دی؟

- ما تر اوسه دا چالان کړی نه دی د برق ساکټ چیرې دی؟

- موږ برق نه لرو

***

یو سړی دوکاندار ته وویل:

- زما د دوکان ټولي خوسا هګۍ په کار دي.

- تر هغه چي دا نوی ډرامه تېره نه شي او موږ یي کمیدین ونه وینو خوسا شوی هګۍ نه پلورم

- زه هغه کمیدین یم

***

یو توریست د جنوبي امریکا په یوه تاریخي ځای کي د یوه هندي نه وپوښتل:

- دا هډوکي به د څوکالو وي؟

- دسل میلونه او دوه کاله.

سړي په حیرت وپوښتل:

- له څه نه دومره دقیق وایي؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- زه دوکاله مخکې دلته راغلی وم يو جيولوجست ويل دا هډوکي سل ميليونه کاله عمر لري.

***

دووعربو په تلويزيون کې يو لويديځ فيلم کوت. يو بل ته ويل:

- ګوره د فيلم هيرو د غره په څوکه له آسه لويږي.

هغه بل ويل:

نه لويږي.

دواړو پينځوس ډالره شرط وتاړه

لومړى ويل:

تا شرط بايلى؛ ځکه ما مخکې دا فيلم ليدلى دى.

دويم ويل:

ما هم ليدلى دى زه فکر نه کوم بيا به دومره ساده شى چې هغه تکرار کړي.

***

درې بجې د شپې زنګ راغى

- څو بجې کتابتون خلاصيږي؟

- نهه بجې، خو دا پوښتنه ولې په کور کې راڅخه کوې؟

- زه نور طاقت نه شم کولى.

بايدطاقت وکړى چې ور خلاص شى بيا ورشه.

زه ورځم نه راوځم!



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

***

د کار انټر ویو:

- ما په کراس ورد(په بیکاری کی د جدول خانی ډوکولو لوبه ) کې ډېرې جایزې وړې دي.

- دا ډېر ښه ؛ مګر زموږ داسې خلک په کار دی چې د کار په وخت کې هم ښه وي.

زه هغه د کار په وخت کې کوم.

***

یوتجار په کتنځی کې ډاکتر ته وویل:

زه خپل باد نه شم کنترولولای په دوتر په کور ان دلته چې راغلی یم راڅخه ختا کیږي ؛ خو شکر کوم چې له نیکه مرغه بوی اوږغ نه لري.

ډاکټر پوزه کش کړه او نسخه یې ورته ولیکله او ویې ویل:

دا د پوزی څاڅکی دی چې پوزه دې جوړه شوه بیا راشه چې د غوږ درمل درکړم

***

شپږ اوونیوروسته رییس له نوی کارمن څخه وپوښتل:

- تا ویل زما انګریزی زده ده. د کامبریج د پوهنتون شهادت لیک لرم، پېنځه کاله د کار تجربه لرم داسې مالومیږی چې هیڅ هم نه لري!

- تاویل داسې کارمن غواړم چې لوړ خیالات ولري.

***



www.tanzona.com

يو د فوټبال ګولکيپر په سړک تيريدی د خلکو ناري او ګنه ګونه يې ولیده، د نژدي بلډينګ د څلورم پوړ نه يو هلک چې ځوړند وو او يوې ښځې هغه له لاسه کشوه او چيغې وهلې:

مرسته! مرسته!

هېڅوک ړاده نه وه له دومره لوړې څخه هغه ونيسي. ګولکيپر ورناري کړل:

زه مسلکي ګولکيپر يم  هلک ايله کړه  زه يې نيسم.

ښځې هلک ايله کړ او ګولکيپر  هغه لکه ګين ونيوی او شوټ يې کړ.

***

دري هلکان د انټرويو لپاره يوې فابريکی ته ورغلل رييس يې چې غوږونه نه درلودل وويل:

ووايه زه څه کمبود لرم؟

لومړی ورته وويل:

ته غوږ نه لرې!

رييس امر وکړ هغه يې بهر وغورځوی.

دويم ويل: ته غوږونه نه لرې!

هغه يې هم بهر وغورځوی.

دريیم  ورته وويل:

- ته کانتک لينز استعمالوې!

- دځه نه پوه شوې؟

- ځکه غوږونه لرې چې عينکې پرې ټينګې شي.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

***

څلورو تنو د کليفورنيا، تکزاس، بوسنيا او نيويارک وو انترويو درلوده:

آمر ټول په يو ه لوکس هوټل کې ميلمانه کړل او سبا يې ترې وپوښتل:

د نړۍ تيز شی څه شی دی؟

د کليفورنيا سړي وويل: مغز

د تکزاس سړي وويل: ستر ګګ

د بوسنيا هغه ويل: برق

د نيويارک هغه ويل : اسهال

هغه وويل : د ډوډۍ وروسته زه په بستر کې پريوتم په نس مي درد شو مخکې له دې نه چې فکر وکړم ،سترګګ وواهم يا برق مړ کړم هغه ولاړل

***

يو کشيش د ډم دوکان ته ورغی خو ډم د هغه نه پيسې وانه خيستې

په سبا کشيش هغه ته يوکېک او د مننې کارت راوليږه.

بله ورځ يو سناتور د وېښتانو جوړولو لپاره ورغلی ډم د هغه نه هم پيسې وانه خيستې.

په سبا د ډم د دوکان و مخې ته شل سناتوران ولاړوه.

***

يو تجارد زيړنتون د انتظار په کوټه کې ناست وو او په کاغذ يې څه ليکل چې نرسه راغله او هغه ته يې وويل:

- ماشوم هلک دی.



www.tanzona.com

هغه بېله دې چې پورته وګوري هغې ته ووېل :

- ډېر ښه! د هغه نه وپوښته هغه څه غواړي؟

***

یو میلیونر په خپل موټر کې سپور یو سړی یې ولید چې واښه خوري. میلیونر امر وکړ موټر ودروئ او هغه سړی ته یې اشاره وکړه: چې دلته راشه.

- ولې واښه خورې؟

- صیب پیسې نه لرم!

صیب یوه میرمن او شپږ ماشومان لرم.

- ښه راځه کور دې راوښیه.

ټوله کورنۍ دې راوله

سړی ولاړ او د ټولې کورنۍ سره راغی او په موټر کې د میلیونر سره سپاره شول او موټر د یو لکس موټر ومخې ته ودرېد.

میلیونر ورته ویل:

- دا زما کور دی د چمن واښه یې ډېر لوی شوي دي د ماشین زور نه په رسیږي.

***

یو نیویارکي په کانادا کې یوې مغازې ته ننوت او دوکاندار ته یې ووېل:

داسې برقي اره غواړم چې په یو ساعت کې شپږ ونې پرې کړې!

بله ورځ هغه په شکایت راغی او ویل یې: دې ارې په ټوله ورځ کې یوه ونه لا نه ده پرې کړې.

دوکاندار د آرې ساکټ برق کې ورکړ او چالانه یې کړه د آرې غږ غږ پورته شو



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

کانادايي په وار ختايي و ويل:

دا غږ د څه شی دی.

***

زه غواړم د ښځو ليډر شم

ولې د سړيو!

ځکه سړي د ښځو د لياړې پل وړونکی دي

***

د غاښوډاکتر و ناروغ ته :

د خولې غاښونه دی زما دي؛ ځکه د پيسو يو کښت يې پاته دی.

***

د بزنس د موفقيت لپاره دوه قانونه دادي: دويم دا چې بل لور ته مه وايه:

زه په هر څه پوهيږم.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# دتګ راتګ وسایل

د سمندر په سر نابېره د یوې څلور ماشینه الوتکې یو ماشین له کاره ووت، پیلوټ امر وکړ:

ټول د خوړولو شیان لاندی وغورځوئ!

یو آن وروسته یې دویم ماشین له کاره ولوېد او پیلوټ امر وکړ:

ټولې څوکۍ لاندی وغورځوئ!

همداسې وشول، لږ وروسته یې درېیم ماشین هم ودرېد؛نو پیلوټ اعلان وکړ:

ټول بکسونه وغورځوئ!

لږ وروسته یې څلورم ماشین هم له کاره ولوېد او پیلوټ اعلان وکړ:

اوس بل چانس نې له دې چې په اوبو کې کښېنونه لرو دهغه چا چې لامبو یې زده هغه دې ښي خواته او د هغه چا چې لامبو یې نه ده زده هغه دې کیڼې خواته ودرېږي. د ښي لوری خلکو چې لامبو زده ده مخامخ مو یو ټاپو لیدل کیږی او هغه چې کیڼې خواته دی د هغو څخه مننه چې په دې الوتنه کې یې ګډون راسره وکړ.

***

الوتکه په میدان کې دوه ساعته وځنډېده د الوتنې نه مخکې دا اعلان وشو:

ډېره ښښنه غواړو! چې وځنډېدو پیلوټ د انجن د غږ په اورېدو نه حاضرېده، چې دا الوتکه والوځوی نو د نوی پیلوت استخدام لږ وخت ونیوه

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

يو الوتکه په بده هوا کې دوه ساعته ښرخېده راښرخېده په اخر کې پيلوټ اعلان وکړ:

ښاغلو او اغلو! زه يو بد خبر او يو ښه خبر لرم. بد خبر دا دی چې د الوتکي تېل خلاص شوی دی او ښه خبر دا دی چې د ښه مرغه يو پراشوټ لرو زه لاندی ځم او مرسته غوارم.

***

هو سرېيه!موټر نه چلانيری لکه چې په ګير بکس کې يي اوبه ننوتلی دي.

- له څه نه وايي؟ موټر چيری دی؟

- په حوض کې دی.

***

د يوې ښځی لومړی هوايي سفر و د ښنګ مسافر يي يوه ژاوله ورکړه او ورته يي وويل:

- ژاولی د غوږو بونګس ورکوي!

چي الوتکه ودريده؛ نو ښځې مخ د ښنګ مسافر ته واړاوه او په موسکا يي ورته وويل:

- رښتيا ژاولی ښه دی؛ خو اوس ښرنګه راوېستل کيږي

***

د کانکورد الوتکه د نيويارک په ښار کې ښکته شوه پيلوټ اعلان وکړ:

ښاغلو او ميرمنو! ستاسو له سفر ه مننه دا نيويارک دی

خو د مايکروفون بندول يي هير شول . د الوتکي انجينر ته يي وويل:

ډير اوږدسفر و اوس د يوې پيالي قهوی وروسته د يوې جينی ته ضرورت لرو



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ستيوردیسی د پیلوټ کابین ته منډه کړه چې مایکروفون بند کړی ؛ خو پښه یې په څوکۍ کې بنده شوه او ولویده

یوې زړې ښځې ورته ورووویل:

تلوار مه کوه پریږده چې قهوه وڅښې

***

په کلی کې د یو سړی موټر په ویاله کې بند شو؛ هلته یو سړی پر آس سپور تېرېدی نو د موټروان مرستې ته ورغی

آس هر څه چې زور وکړ؛ خو موټر یو انچ هم ونه ښوریدی. د آس خاوند ناري کړل:

کش که« بلهکی»، کش که« سامن). کش که« توری» ،کش که «بډی»

آس زور کړ او موټر یي له ویالې څخه وابسته.

موټروان خوشاله شو او په هېښتیا یې د آس له خاوند نه وپوښتل:

تا دومره نومونه ولې واخېستل؟

- ته پوهېږی «بډی» ړوند دی هغه فکر وکړ چې نور آسونه هم ورسره دی نو د زړه له اخلاصه یې موټر کش کړ.

***

یو خبریال یو سوځلی ځنګله ته د عکس اخیستلو لپاره واستول شو، دود ډېر و، هغه ته په مخابره کې وویل شول چې د ځنګله سویل خواته یوه الوتکه درځي هغه ته ځان ورساوه او له هوا څخه عکسونه واخله!

هغه په منډه د الوتکې خواته ورغی هلته یې یوه الوتکه چې له مځکې پورته وه او کرار کرار تله ولیده هغه په منډه منډه به ډېر ربړ ور پورته شو په داسې حال کې چې سا یې تنګه تنګه کیده پیلوټ ته وویل:



www.tanzona.com

- زه غواړم له شمالي خوا څخه عکسونه واخلم.

پیلوټ په هېښتیا هغه ته وکتل.

- څه! ته د الوتکې ښوونکی نه يې؟!!!

***

یو نفر داورګاډي سګنال مین لپاره درخواست ورکړی و؛ نو د اورګاډی امر ترې وپوښتل:

که دوه اورګاډي مخامخ سره راغلل ته څه کوې؟

- اشاره ورکوم صیب.

-که اشارې کار ورنه کړ!

- د عاجلی برېښنا يې اشارې څخه کار اخلم صیب.

- که برېښنا نه وه !

- مخامخ اورګاډي ته تیلفون کوم صیب.

-که تیلفون مصروف و.

- بیا کلی ته ځغلم صیب.

-هلته څه کوې؟

خپل اکا خبروم؛ هغه تل وايي ما د اورګاډی ټکر نه دی لیدلی.

***

یوسړي له لندن څخه ایدنبرا ته سفر کاوه په لاره کې يې له ټکټ کنترولونکی څخه وپوښتل:



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

- زه نیویارک(د انګلستان یو ښار دی ) ته ځم هلته مې میرمن په روغتون کې منتظره ده.

- مورږ هلته سټاپ نه لرو! خیر زه به ډرېور ته ووایم ،چې اورګاډی لږ کرارکړی او زه به تاښکته کړم.

د نیویارک په سټېشن ،چې د اور ګاډي سرعت شل مایله ته ورسېده کنترولونکی دی له غاړې ونیوه او چې پښې یې پلاتفورم ته ورسېدې کنترولونکی هغه ایله کړ او د ی د توازن په خاطر همداسې په ځغاسته شو، چې ونه لوېږی په دې وخت کې دبوفیت د منېجر سترګې په ده ولګېدی هغه فکر وکړ،چې دی غواړي اورګاډي ته وخېژي؛نو دی یې له غاړی ونیوه او اورګاډي ته یې راپورته کړ

***

یوهلک،چې رنګ یې تک سپین شوی وو خپل اندیوال ته ویل:

- ما د اورګاډي سفر ناروغه کوي به ځانګړي ډول هغه وخت، چې شا مې اینجن ته وي.

-ولې د مخامخ سرې سره دی ځای نه بدلوی؟

- زما هم همدا فکر وو؛ له بده مرغه د مخامخ سیټ خالي و.

***

یو سړی له میلان څخه روم ته په اورګاډي کې سفر کاوه او د ټکټ کنترولونکی ته یې وویل:

زه باید په« پراتو» کې کښته شم، دا لس زره لیرې واخله او ماهلته راویښ کړه!

خو لومړی سړی چې راکښیناست روم ته نژدې وو؛ نوډیر په غوسه وو، خو دومره نه وو په غوسه لکه هغه ،چې ټکټ کنترولونکی په« پراتو» کې په زوره له اورګاډي څخه وغورځاوه .

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

د امریکا او جاپان تر منځ د بیړی چلولو لوبه وه خو جاپان هغه یووړه.

د امریکا د المپیک کمیټي ټیم پولیسو ته دنده ورکړه، چي په دې اړه څېړنه وکړي د لسو میلیونو ډالرو مصرف وروسته هغو مالونه کړه چي د جاپان له اوو تنو څخه یو یې منیجر دی

بل کال بیا لوبه وشوه د امریکا بېړی څلور منیجران اودری مرستیالان لرل او لوبه یې بایلوده.

بیا لس میلیون ډالره ورته منظور شوه چي څېړنه وکړي چي غلطي چېرې وه

***

یو انګریز، یو فرانسوي، یو مکسیکویي او یو تکزاسي په یوه الوتکه کي سپاره وه. الوتکه خرابه شوه او پیلوټ اعلان وکړ:

دريِ تنه دی ځانونه وغورځوي!

لومړی انګریز په ناامیدی لاندی وکتل او د ژوندی دي وي ملکه په ویلو یې ځان وغورځاوه.

فرانسوي هم لاندی وکتل او د ژوندی دي وي فرانسه په ویلو یې ځان وغورځاوه

تکزاسی« الامو» په یاد شو مکسیکویي یې لا لا سه ونیوی او ځان یې له الوتکي نه وغورځاوه

***

یو موټروان، چي توله شپه یې موټر چلولی وو د دوه ګړی خوب په پار یې موټر ودراوه؛ خو لس دقیقي وروسته یوه د موټر ښیښه وټکوله او پوښتنه یې وکړه:

- څو بجي دی؟

- اووه بجي!



www.tanzona.com

لس دقيقې وروسته  بيا ښېښنه وټکيده:

- څو بجې دی؟

- اووه او لس

موټر وان به يوه کاغذ وليکل: زه په وخت نه پوهيږم او  هغه يې په ښېښنه ومښلاوه

لس دقيقې را نه وې تېرې شوې ، چې بيا يو ښېښنه وټکوله او ويې ويل:

- اووه او شل دی

***

يو ټکر شوی وو،ډيره ګڼه ګونه وه او ډير لارويان په راټول شوی وه.

يو خبريال خلکو ته ددې لپاره چې لار ورکړی ووېل:

لاره راکړئ زه د قربانی شوي زوی يم.

يو ورته وويل:

هلته خر موټر وهلی دی

***

يو سړي په اورګاډي کې ژاولې ژولې ، يوه سپين سرې يې تر څنګ کيناستله هغه ته يې وکتل او ويې ويل:

دا ښه نه ده ځوانه، چې زما سره خبرې کوې

زه کڼه يمه

***

موټروان پوليس ته:



www.tanzona.com

لاروی نه پوهیده کومی خواته ولاړ شی؛ نو ما په موټر وواهه

***

یو بزګر خپل زوی په لاري کې د یو کار پسي

بل کلي  ته واستاوه دوه ساعته تېر شوه د هغه خبر مالوم نه شو پلار يې له موبایله زنګ ورتیر کړ.

- چېرې ورک شوې؟

-په لاره کې مي یو سرکوزی تر موټر لاندی کړ.

-خیر له سړک څخه يې لیرې کړه!

- خو هغه نه دی مړ لغتي غورځوي، ویرېږم چې خوږ مي نه کړي.

- هلته د موټر په شا کې توپک پروت دی هغه ولې او ترې راځه!

د پلار يې زړه صبر نه شو بیا يې زنګ ورتیر کړ.

- څه کوې راځه! هغه دې وویښت؟

- هو، مګر د هغه موټر سایکل تر اوسه پورې د موټر لاندی ټوپونه وهي

***

یو سړی د سفر دپروګرام  استازی ته وویل:

مخکی کال بهاماس ته ولاړم چې راغلم میرمن مي اومیدواره وه. دوه کاله مخکې بالي ته ولاړم چې راغلم میرمن مي اومیدواره وه.داسي ارزانه ځای راوښيه چې سږکال هغه له ځانه سره بوځم .



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

# بیچاره ډاکټران اوناروغان

تا به اورېدلي وي ، چې د غاښنو ډاکټر ولې د مغزو متخصیص شو؟

هو ! د هغه برمه له غا ښه وښوییده.

***

ډاکټر،ډاکټرزما زوی زما پارکر قلم تېر کړ، څه وکړم؟

- تر هغو، چې قلم دی راباسم له دې پنسل څخه کار واخله!

***

ښننه غواړم ستا د نس په عملیات کې زما اسفنج هېر شوی دی.

- زه اوس پوه شوم ، چې ولې ژر ژر تږی کیږم.

***

ډاکټر صیب!د باد لپاره یو شی راکړه.

- کاغذ باد څرنګه دی؟

***

ډاکټر!زه میخانیکی مغز لرم.

بلی خو ځینې پېچونه دې سست شوي دی

***

یو سړی خپل لاس پرې کړی وو ډاکټر ورته ورته وویل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- زه څو کوکه ورکوم

ناروغ ورته وویل:

- د کمیس غوټه مې هم پرې ده

***

جان اوماړی ښه جوړه ده.

- البته هغه ګولۍ دی او دا د سر درد

***

ولې نرسه د دوا له الماری نه د ګوتو په سر تېره شوه؟

هغه نه غواړي ویدې شوې ګولۍ راکښېنوی

***

ډاکټر راته وویل: ګلف خوشې کړه.

- ولې ستا د روغتیا په خاطر.

- نه هغه زما د نومرو کارت ولید

***

ستا د مېره روماتیزم ښه شو؟

ښه دی ، ما د هغه شا لکه،چې تا ویل په وسکي غوړه کړه.

- فایده یې وکړه؟

- هو! هغه هڅه کوله خپله شا وڅټي؛ نو غاړه یې ماته شوه

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

دا د قوت ګولیو ماته ګټه ونه کړه.

ولې؟

ځکه زه نه شم کولای د ګولی د بوتل سر خلاص کړم.

***

لامبل د ډوډی خوړلو وروسته زیان لري!

-خو زه د ډوډی خوړلو وروسته پرشا لامبم

***

یو سپین ږیري ته غټه جایزه راوتلې وه ددې لپاره، چې سکته ونه کړي؛نویو ډاکټر ته دنده ورکړل شوه، چې دی دې خبر اوریدو ته تیار کړی.

ډاکټر سپین ږیري ته وویل:

- که تا ته کومه غټه جایزه راووځي څه پرې کوې؟

سپین ږیري وویل:نیمايي یې تا ته درکوم!

ددې خبرې په اوریدو سره ډاکټر په خپله سکته وکړه.

***

ولې دی دواړه غوږونه سوځلي دي؟

- ما اوتو کاوه چې ټلیفون راغی ماد غوږ پر ځای اوتو پورته کړ

نو د بل غوږ دی ولې وسو؟

- بیا زنګ راغی

***



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

ته پوهیږی زویه، چې نرسې ولې ستا مور ستا د زیږیدوپه وخت کې په چپلاغه ووهله؟

- نه!

-چې ته پیدا شوی ما نرسې ته اشاره وکړه چې تاته وګوری ستا په لیدو هغه ستا مور په چپلاغه ووهله

***

ډاکټر صیب! ډیر ناروغه یم، په مشکل سا باسم په لاره تلای نه شم، ضعف رابانده راځي ما ته یو نسخه راکړه!

- دا ده یوه پرزه قبر کن ته

***

ډاکټر صیب! زه به بنه شم زما ملګری وایې یو ناروغ برانشیت و؛خو د زړه له حملې نه مړ شو

هیڅ فکر مه کوه زه ،چې هره ناروغی تشخیص کړم ناروغ د هغې ناروغی څخه مړ کیږی

***

عملیات په خیر تیر شو دا یوه پینه مو در پرې کړه

- خو یو بد او یو بنه خبر درته لرم:

- ژر یې راته ووایه!

- بد خبر دا دی موږ غلطه پینه پرې کړې ده او بنه خبر دا دی ، چې بله پینه دی هم څه نقص نه لری

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ډاکټر صیب! ډیر ویرېږم دا مې لومړی وار دی ،چې عملیات کوم

- هیڅ فکر مه کوه زما هم لومړی وار دی

***

ډاکتر صیب! ولې دې د سلو پوندو بیل را استولی دی زما د زوی یو غاښ دې ډک کړي دی، هغه لس پونده کیږي

- دا سمه ده، چې ستا د زوی یو غاښ مې ډک کړی دی،خو د هغه په چیغو لس نور ناروغان وتښتېدل.

***

ما هغه دوا چې تا دفرنېچر لپاره راکړې وه غلطه استعمال کړه.

- نوره غواړې؟

- نه! مرسته غواړم، چې فرنیچر وښوروومه

***

ډاکتر ، ډاکټره! زما وېښتان تویيږی ، ما ته یو شی راکړه

- دغه کاغذی کڅوړه واخله

***

ډاکتر ، ډاکټره!زه فکر کوم سپی یم!

- له څه وخت راهیسی دا فکر درلوېدلی دی؟

له هغه وخته، چې لا کوتری وم

***



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

ډاکټر ، ډاکټره!زه فکر کوم سپی یم!

- دلته په دې څوکۍ کښېنه!

-سپی اجازه نه لري په څوکی کښیني

***

ډاکټر صیب! زما غابښونه ژیړ شوی دی څه وکړم؟

- سره نیکټایي ورسره وتړه.

***

ډاکټر صیب! د دوو غابښو د ایستلو څو غواړې؟

- اتیا پونډه.

-دا ډیر ګران دي، کومه بله لاره نشته، چې ارزانه وي؟

-بې له بېهوشۍ شپېته پونډه غواړم!

- دا هم ګران دی

- که په پلاس يې وباسم  بیا شل پونډه غواړم.

- دا هم ګران دی

-ډاکټر سر وګراوه او ويې ويل:

- که زما شاګرد يې د تجربې په پار وباسی او پرې زده يې کړی بیا لس پونده غواړم

- دا ښه ده !

- نو زما د میرمنی نوم ولیکه

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

په روغتون کې د يوه هلک ورور وزيږيده ، هغه هلته يوه جينی وليده چې پښه يې تړلې ده نو په خوښۍ يې د هغې نه وپوښتل :

- څومره وخت کيږی دلته يې؟

- شپږ مياشتی

- کولای شم زوی دی وګورم؟

- زه زوی نه لرم

- ډيره کراره يې زما مور دلته په دوه ساعته کې زوی پيدا کړی

***

دکاناډا په يوه کلي کې بريښنا تللي وه؛ نو ډاکټر اړ شو له ارليکين څخه کار واخلی څو دقيقی وروسته يو هلک پيدا شو سړي لاتين پريښود او هلک يی په غيږ کې ونيوه؛ خو ډاکټر ورته وويل:

ارليکين ونيسه بل ورپسې دی او بيا يوه جنی وزيږيده.

سړی غوښتل ارليکين کښيږدی؛ خوډاکټر ورباندی ږغ وکړ ارليکين مه ږده چې بل ورپسې دی

سړی ارليکين پوه کړ او ويې ويل:

ته نه پوهيږئ دا په روښنايي راوځی!

***

د ډاکټر د کورد تشناب نل چولی وو. نل دوان يې ورته راوست د کار وروسته يې تري وپوښتل:

څوشوې؟



www.tanzona.com

- شپيته ډالره

- د نيم ساعت لپاره شپيته ډالره ، زه چې ډاکټر يمه دومره پيدا کولی نه شم

- زه چې ډاکټر وم ما هم نه شوای پيدا کولای

***

ځلورو نرسانو هوډ وکړ چې کبرجن ډاکټر ته سبق ورکړي:

لومړی: ما يې په ساتيسکوپ کې پومبه اېښي ده چې څه وانه وري

دويمه: ما يې له تر ماميتره څخه سيماب ايستلی دی او هغه مې رنګ کړی چې ۱۰۷ وويل شي

دريېمه:ما يې د الماری تولی کانديم « بوغی» سوری کړی دی

څلورمي ضعف وکړ

***

ډاکټر:څه دي خوړلي دي؟

د سهار له خوا مې د بليارد دوه ژيرګينان، غرمه مې دوه شنه ګينان او د شپې مې دوه سره ګينان خوړلي دي.

- ښه زه پوه شوم، چې ولې نه يې ښه شوی تا زرغونه ګينان نه دي خوړلي!

***

يوډاکټر د يوې جنۍ سره رستورانت ته ولاړ ،ډاکټر د مچولو دمخه او وروسته خپل لاسونه پريولل

جنۍ په موسکا موسکا هغه ته وويل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- که غلته نه شم ته جراح یې؟

- بلی یم، ولې ته څه پوه شوې؟

ته د هر څه تر مخه او وروسته لاسونه مینځې

ډاکټر ورته وویل:

- او زه فکر کوم ته انیستیزیسه یې!

-هو یمه ولې؟

- ځکه هیڅ نه حسوم

***

ماپرون غوښتل په( ۵۰۰) اسپیرینو ګولیو ځان ووژنم.

ډاکټر: وو دي واژه؟

- نه په دوو دانو جوړ شوم

***

په نیمه شپه کې یوې ښځې ډاکټر ته تلیفون وکړ:

ژر راشه زما زوی بوغی تیره کړه!

ډاکټر کالي واغوښتل په همدې وخت کې بیا زنګ راغی بیا هغه ښځه وه ویل یې:

- تشویش مه کوه ما بله بوغی پیدا کړه

***

خپل پورته غابنونه به څه شي پاکوې؟



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- په بورس او کريم

- اوکښنته

- دغه ډول

- خو زه د تشناب کاغذ استعمالوم

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د زده کوونکو کوډګري

ولې اسکېلېټ د ښوونځي سره مینه لري؟

- ځکه زړه نه لري!

***

د آرت ښوونکی او زده کوونکی:

- مادرته وویل یوه غوا انځور کړه،چې واښه خوري. اوتا سپینه پارچه راکړه؟

- غوا ټول واښه وخوړل؛ نو ځکه دلته واښه نه لیدل کیږی

- نو غواچېرې ده؟

- هغې واښه وخوړل اوغوجلې ته ولاړه

***

نن ماښام څه کوې؟

د پلار سره مرسته کوم،چې ټول زما کورنی کار وکړي!

***

- زویه! نن دی څه زده کړل؟

زده مې کړه هغه کورنی کار، چې تا کړی وو هغه ټول غلط وو

***

ښوونکی: نه پوهیږم د لکچر په وخت کې په لاسو څه وکړم؟!

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

زده کوونکی: په خوله يې ونيسه!

***

د کيميا په لابراتوار کې بايد په ياد ولري!

-قاشقه مه څټه

***

زده کونکی: زه په رخصتۍ کې د زو بڼ ته تللی وم

سر ښوونکی: زه هم هلته وم

زده کوونکی: ما ونه ليدې په کوم قفس کې وې!

***

يو زده کونکی سر ښوونکي ته شکايت وکړ:

دا لوبيا کلکه ده!

سرښوونکی د قاب څخه يوه قاشقه په خوله کړه او ويي ويل:

- دا خو کلکه نه ده!

- اوس خود نه ده کلکه ما نيم ساعت هغه ژولې ده

***

ښوونکی: هر څوک چې ساده وی هغه دی ودريږی!

د لږ چوپتيا وروسته يو هلک خپله يوه پښه پورته کړه

ښوونکی: ولې ته سوچ کوی چې ساده يې؟

زده کونکی:زه نه يم،خو غواړم ووايم، دلته ودرېږه.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

***

ولې ناوخته راغلې؟

- د ښوونځی مخی ته په لوحه باندی لیکل شوي دي«کرارځه» ښوونځی دی.

***

له ښوونځی وروسته څه کوې؟

زه غواړم د ډاکټری مسلک مخی ته بوځم.

- ستا مقصد دا دی چې غواړی ډاکتر شې؟

- نه زه غواړم قبر کیندونکی شم

***

د مړه سمندرګي په اړه په څه پوهیږې؟

- په( ډیره حیرانی)هغه څه وخت مړ شوی دی زه یې ان په ناروغی نه یم خبر شوی

***

نن ولې ناوخته راغلې؟

- دغاښو کریم مې ډیر کښیښنی دهغه بیرته (کېمنډه) ډیر وخت ونیوه

***

د سبق په وخت کې شپیلک مه واهه!

- زه سبق نه وایم

***

ته فکر کوی ښوونکی یې؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- نه ، صيب!

-نه د لوده اکتونه مه وه.

***

ځرنګه پوهيږې چي ګاززې د سترګو لپاره ښه دي؟

- ځکه ما تر اوسه عينکي سوی(خرګوش) نه دی ليدلی!

***

حلزون ځرنګه حيوان دی؟

هغه چينجی دی چي د کور پرابلم لري.

***

که سره زر په هوا کي کښيږدو څه کيږی؟

- ورکيږي.

***

درې زده کوونکي ټولګی ته ناوخته راغلل

ښوونکی ترې وپوښتل:

- ولې ناوخته راغلاست؟

هلکانو ځواب ورکړ موږ اخته وولرګی مو اوبو ته  غورځوی نورابانډی نا وخته شو

لږ وروسته يو کوشنی هلک چي لوند خيشت  و راغی

ښوونکی ترې وپوښتل:

ته ولې ناوخته راغلی او نوم دی څه دی؟

Copyright: www.tanzona.com

- صیب لرګی

***

یوې ورېې جینی په ژړا ژړا مورته وویل:

- نن په ښوونځی کې ښوونکی د هغه څه په پار ، چې ما نه وه کړی ووهلم

مور یې ورته وویل:

زه سبا ستا د ښوونکی سره خبری کوم،

تا څه نه وه کړي؟

- کورنی کار

***

یو سړی د ښوونځي مخې ته د ماشومانو انتظار کاوه،د خپل څنګ ولاړې ښځې ته یې وویل:

- وګوره !هغه سړی ویني، چې زوړ کاوبای پتلون، څیرې څیرې کمیس یې اغوستی او ببر وېښتان یې دی ښوونکی دی

-ته و خدای ښوونکی داسې وي؟

- هو هغه زما لورده

- ببښه غوارم ! پوه نه شوم چې ته یې مور یې!

- زه د هغې مور نه، پلاریم .

***

ښوونکی:د غوایي غوښه وخوره د اوسپني ډکه ده ؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

زده کوونکی:نو هرومره کلکه ده

***

زده کوونکی: وبښه زه فکر نه کوم د صفر وړ اوسم

ښونکي: څه وکړم د صفر کښته نمبر نشته!

***

لومړی زده کونکی: تا ولې د تاریخ ټول سوالونه غلط کړل، ځکه ستا په لستوني ټول تاریخونه لیکل شوي وو

دویم زده کوونکی: همدا غلطي وه؛ ځکه ما د جغرافیې کمیس اغوستی و

***

ښوونکی: یوه مقاله دې ښه او بله دې نه ویل کېږی!

زده کونکی: هو صیب! زما مور ښه ده خو پلار مې بې سواده دی .

***

ښوونکی او زده کوونکی:

- دا د څه شی انځور دی؟

- نه پوهېږو!

- دا کانګرو ده .

- کانګرو څه شی ده؟

- کانګرو د استرالیا اصلي اوسیدونکي ده .

یوه کوشنی هلک لاس پورته کړ: هو ، زما خور د داسي یو سره واده کړی دی



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

***

پلار: د تاریخ نومرې دې خرابې دي

هلک:ښوونکی دداسې شیانو پوښتنه کوی ، چې زما د زیږیدو نه مخکی پیښ شوي دي.

***

جینی: زما مور عصبي تکلیف لري.

بله جینی: څرنګه؟

هر وخت چې زما نومرې ویني ضعف کوي.

***

یوې ښځې خپلې خورلنډې ته وویل: زما لور ډیره هوښیاره ده ماورنه وپوښتل:

ایف( انګریزی توری)« دفیل ( ناکام ) مانا لری» څه ته وايي؟

هغې وویل: فها

***

مور: په ښوونځي کې دې نن څه زده کړل؟

زوی: یاء، سبا بیا ورځم.

***

د حساب ښوونکي: که پر میز لس مچان وی او زه یو مړ کړم څوپاته کیږي؟

زده کوونکی : یو ، یوازې هغه مړ .

***

ښوونکی KNO٣ څه ته وايي؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

زده کوونکی: یوه دقیقه... په زړه می راځي په خوله می نه راځي

ښوونکی: توکه دا نایتریک اسید دي.

***

ښوونکی: دموږک جمع څه شی ده؟

زده کوونکی: موږکان

ښوونکی: د ماشوم؟

زده کوونکی: غبرګولیان!

***

زده کوونکی: معلم صیب! تا ویل د ښوونځي د غاښنو ډاکټر بې درده دی لیکن هغه...

ښوونکی:هغه غوږ کړې؟

زده کوونکی: یا، چې ما ګوته ور په غاښ کړه هغه چیغې کړې.

***

یو زده کوونکی لس چاکلېټه وخوړل؛ نو ښوونکي ترې وپوښتل:

- ضعف نه درباندی راځي؟

-نه، لېکن داسي احساسوم ، چي د جیت الوتکه یم؛ خو الوتلای نشم.

***

ښوونکي له زده کوونکو نه وپوښتل:

د ښوونځی له راتګه مخکې څه واست؟

ښوونکي تمه لرله ،چي یو به وایي « ماشومان»

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

خو ټولو په یوه ږغ وویل: خوشاله

***

ښوونکی او زده کوونکی:

-ماشوم تعریف کړه؟

- نرم ، پوست شی، چې له یوې خوا ډیر شورماشور کوي؛خو د بلې خوا بیا د مسولیت احساس نه کوي.

***

میشل له ښوونځي نه کور ته راغی او له مور نه یي وپوښتل:

هغه سپرې ،چې په تشناب کې دی هغه د وېښتانو جیل دی؟

مور: یا هغه سریښ دي.

میشل: ښه نو دا علت دی ، چې خولی مې له وېښتانو  څخه نه جلا کیږي

***

د ساینس ښوونکی ،چې ډیره هېره یې  درلوده ټولګی ته د یوبکس سره راغی او ویې ویل:

ما تاسو ته چونګښې راوړی دی او له بکس څخه یې دوه ساندویچه راویستل، دهغو په لیدو یې په اریانی وویل:

قسم خورم ګرانو! ما هم دا اوس له راتګه مخکې د غرمې ډوډی وخوړه

***

ښوونکی: ماري ولې ژاړې؟

ماري په ژړا ژړا وویل: جان زما ناوکی ماته کړه!



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ښوونکی: څرنګه ماته شوه؟

ما جان په ناوکی وویشت او هغه ماته شوه

***

ښوونکی ټولګی ته راغی او ویې لیدل پر توره دړه چا کنځل لیکلي دي؛ نو زده کوونکو ته یې وویل:

- زه نه غواړم هغه چا چې دا لیکلي دي هغه ورتړم؛ ځکه دا بد سیستم دی، موږ ټول سترګې پټوو او تر سلو شمېرو هر چا چې دا لیکلي دي هغه دې راشي او دړه دې پاکه کړي

ټولو سترګې پټې او په شمېرلو یې پیل وکړ(۱-۵۰-۱۰۰).

چې ټولو سترګې پرانیستې پر لیکنې یوه بله کرښه زیاته شوې وه

یو وار بیا سترګې پټې کړئ خرو ، چې دا وار یې رسمونه درته وباسم

***

ښوونکی: زما سر نن درد کوي

یو زده کوونکی جګ شو او ویې ویل:

ته لکه زما د مور غوندې ولې نه کوې؟

ستا مور څه کوي؟

چې د هغې سر درد کوي موږ بهر لوبو کولو ته استوي

***

د جغرافیې ښوونکی:

- کوم منرال د امریکا څخه صادرېږي؟



www.tanzona.com

زده کونکی : کوکاکولا

***

ښوونکی،زده کوونکي په کرسمس کي کلیسا ته بوتلل او په بله ورځ يې د هغوی نه وپوښتل:

ساتـ مو تیر شو؟

هو! یوې ښځې مونږ ته يو قاب کي پيسي ونيولي مونږ وانه خیستي او مننه مو ځينې وکړه.

***

مورا! مورا! زه د تولګی اول نمره شوم.

- څنګه؟

- ښوونکی وپوښتل،چي پيل څو پښي لری ما ورته وويل :« پينځه»

- دا خو غلط ځواب دی

- زه پوهيږم؛ خو دا تر ټولو نژدې ځواب وو

***

ښوونکی: ته په حساب کي ښه يې؟

-بلی او یا

- بلی او یا یانی څه ؟

-بلی زه ښه نه یم!

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- ولې له ښوونځيه  وختي راغلې؟

- ناروغي!

- ولې ګرانه ناروغه  يې؟

- نه د سر ښوونکي ناروغي يادوم.

***

زموږ په ټولګی کې يو هلک دی هغه وايی زه تا ته شوی يم!

- تا څه ورته وويل؟

هيڅ هغه زما نه غټ دی.

***

ولې ښوونځی ته ناوخته راغلې؟

موټر مې پنچر شو

- په کوم ميخ وختي؟

-يا د کوک پر بوتل

- تا پر سړک دا غټ بوتل ونه ليده؟

-بوتل د هغه بې عقله په بغل جيب کې وو.

***

ښوونکی: څه وکړو، چې شودې خيدک نشي؟

زده کوونکی: په غوا کې يې پرېږدو!

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

ښوونکی :کوم هیواد دی ډیر خوښ دی؟

زده کوونکی :آذربایجان !

- سپیل یې ووایه!

- نه صیب زما روم خوښ دی.

***

چې غټ شم غواړم پولیس شم او د خپل پلار لاره ونیسم.

- ستاپلار پولیس دی؟

- یا، هغه غل دی.

***

ته فکر کوې چې د فټبال ټیم د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ډیره چټلي کوي؟

- هو، د هغو دیریبل ډیر خوښ دی .

***

خره له یو زاړه موټر ه وپوښتل: ته څوک یې؟

- زه دښوونکي موټر یم

- له دیدنه دی ډیر خوشاله شوم او زه آس یم.

***

ښوونکی : که په ټولګي کې ستا پر ځای بلا ناسته وی نو څه کوې؟

زده کوونکی: بل چیرې کښېنم

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ښوونکی : ستا يو جرابه ژيړه ګلدار او بله توره ليکداره ده

زده کوونکی: هو! زه همداسي يوه بله جوړه هم لرم

***

ښوونکی:د اوبو په اړه يوه مقاله وليکه!

زده کوونکی:اوبه يوه بې رنګه مايع ده ، که پرېولل شي؛ نو رنګ يې توريږي.

***

ښوونکی: الوتونکی ولي په ژمي کې د سهيل خواته الوځي؟

زده کوونکی:ځکه د الوتکي ټکټ ګران دی.

***

پروفيسر اعلان وکړ « هر چا چي د زنګ وروسته پارچي ته لاس وروړ هغه ته صفر ورکوم».

يوه د ازمويني پينځه دقيقي وروروسته خپله پارچه راوړه.

پروفيسرورته وويل:

زه صفر درکوم

زده کوونکی : ته ما پيژنئ!

- نه!

زه هيڅ پروانه لرم، که د وزير زوی يې که د پاچا!

- ښه نو تاسو مانه پيژنئ؟



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

- نه!

- ډیر ښه

زده کوونکی خپله پارچه د نورو پارچو په منځ کې کېښوده او وتښتید.

***

د ورکتون په وروستی ورځ د وړکتون ښوونکی هغه ډالۍ چې د ګل پلورنکي زوی ورته راوړې وه پر سر ونیوله او ویې ویل:

دا ګلان دی!

- بلی دا ګلان دی.

بیا یې د شیرینی پلورونکی د زوی تحفه پر سر ونیوله او ویې ویل:

دا چاکلیټ دی!

- بلی هو.

بیا یې د شراب پلورونکی د زوی تحفه پر سر ونیوله او ویی ویل :

دا شراب دی!

- نه صیب!

د هغه څخه یو یو څاڅکی تویدی ښوونکی د هغه خوند وڅکه او ویې ویل:

- واین دی !

- نه صیب!

بیا یې بل څاڅکی وڅاکه او په ډاډ یې وویل:

- بیر دی !

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- نه صیب!

نو څه شی دی؟

- پاپی دی صیب!

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د سپورت مینه وال

مېره او مېرمن دواړه د ګلف مینه وال وو.

مېرمني یې غوښتل مالومه کړي، چې پر مېړه ګرانه ده که نه ؛ نو د هغه څخه یې وپوښتل:

- که زه مړه شمه او ته بل واده وکړې؛ نو زما زیورات هغې ته ورکوې که نه؟

میره یې ورته وویل:

- څه خرابې خبرې کوې،خدای دې نه کوي . یو سوړ اسویلی یې وکېښ او ویې ویل:

- البته چې نه یې ورکوم.

- زما کالي ورکوې؟

- یا! بابا نه یې ورکوم.

- زما د ګلف توپونه ورکوې؟

- نه البته، چې نه یې ورکوم ، هغه کین لاسې ده.

***

یو سړی د فوټبال سره ډېره مینه لرله د لوبې د لیدو لپاره کور ته راغی؛ مېرمن یې د خپل مین سره په کوټه کې وه . میرمنې یې خپل مین د تلویزویون شا ته پټ کړ

سړی د رسیدو سره سم تلویزیون چالان کړ او د لوبې په لیدو بوخت شو

نیم ساعت وروسته د تلویزون شا توده شوه؛ نو د میرمنی مین یې راووت او په منډه له کوټې نه ووت .



Copyright: www.tanzona.com

سړی ناري کړې:

هوښځې !اما ريفري ونه ليد چې کوم يو يې د لوبې له ميدانه څخه ويست.

***

يوې ښځې د سپورټ دوتر ته تيلفون وکړ او ويې ويل:

- چا د فوټبال لوبه يوړه لندن که فرانسې؟

د هغې خوا ځواب ورکړ شو:

- فرانسي

- مننه

ښځې ميره ته وويل:

- ودی ليدل ما درته ونه ويل: چې لندن يووړه

***

کوچ يو د فوټبال ليوال ته وويل:

چې حساب زده نه کړې تا نه نسيم ته وواېه دوه جمع دوه څو کيږی؟

- څلور

مخکې له دې چې کوچ څه وواېي د فوټبال پخوانيو غړو چيغې کړې خير دی يو بل چانس هم ورکړه

***

دفوټبال يوه مينه وال ته ډير خراب سيټ رسيدلی وواو لوبه سمه نه ورته ښکارېده په دوربين کې يې ورته کتل او نابره يې ميدان ته نژدې يو خالي سيټ وليد نو هلته ورغی هغه سړی ته چې سيټ يې نيولی وو وويل:



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

- دا زما د میرمنی سیټ دی هغه مړه شوه  هغه د فوټبال ډیره مینه واله وه

- ډیره ښښنه غواړم، چې ته مې خواشینی کړی زه یو ه پوښتنه کولای شم، چې ولې دی دا ټکټ خپلو نورو دوستانو ته ورنه کړ؟

هغه په خواشینی وویل : هغه ټول د هغې جنازې ته ولاړل

***

د بوکس  یو مینه وال خپلې میرمنې ته وویل:

- ته لوبه وګوره او بیا یې د شپې ماته کیسه وکړه!

دشپې یې د هغې نه پوښتنه وکړه:

- چا یووړه؟

- هیچا! په لومړی راونډ کې یو خوړ شو نو لوبه ناتمامه پاتې شوه

***

دهغه  یوازینی تمرین  دا دی، چې ویدویي فلمونه ګوری

هغه څرنګه تمرین ورکوي؟

هغه یې د بدن وپښتان جګ دروي .

***

ستاسو تیم څرنګه لوبه یووړه؟

د جرابو د بد بویي له امله څکه  هغوی ونه شوکړای چې موږ ته رانژدې شي.



www.tanzona.com

# پام کوه!خطرناکې ټوکې

په ځنګله کې يو توريست (سيلانی) ناروغ شو هغه يې يو جادوګر ته بوت.

جادوګر ورته د چنګښې ژبه، د مار لکی، لس خزدکي، درې چنجان ، شپږ ماما غواګی د غوا د غوشايو سره ګډ او ورته يې وويل :

دا درې واري له ورځي وخوره!

بله ورځ يې دهغه څخه وپوښتل:څرنګه يې؟

هغه ورته وويل: نه يم ښه.

جادوګر ورته وويل:

اوس دويم پلان استعمالوم دا اسپرين ګولی دوه دوه درې وخته وخوره

***

يو ادم خور بل ته :

هغه ښځه چې پرون درسره وه څوک وه؟

- هغه مې د ماښام ډوډی وه!

***

يو ادم خور خپل زوی ته:

څو واري مې درته ويلي دي  چې په خوله کې د چا سره لوبې مه کوه!



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

***

يو جادوګر ته ، چې په موټر کې رهي وو تليفون راغی:

احتياط کوه! ما په راديو کې واوريدل يو نفر په موټر وې کې چپه رهي دی.

- ښه شو، چې راته ودی ويل دا يو نه دی بيله ما ټوله چپه رهي دي.

***

يو جادوګر، چې هېره يې درلوده په څرخېدونکی دروازه کې شپږ ساعته څرخيده او نه پوهېده چيری ځي که راځي.

***

يوه بلا بلي بلا ته :

په لاسو شی مه خوره ؛لکه ماپه يوم يې خوره!

***

يوه جينی د هديرې تر څنګ تېريده يو ږغ يې تر غوږ شو،چې ويل يې:

لومړی ستا پښې بيا ستا لاسونه او بيا دی سر خورم. جينی په منډه د پوليسو دوتر ته ورغله او کيسه يې د پوليس امر ته وکړه څو تنه دلاور پوليسان ورسره راغلل ښه ورته غوږ شول همدا ږغ اوريده کيده: لومړی ستا پښې بيا ستا لاسونه او بيا دی سر خورم

پوليسو کرار کرار هغه محاصره کړ هغه يو ماشوم وو چې له جيلي څخه جوړه شوی نانځکه يې په لاس کې وه

***

دوه سري خوړونکي يو وکيل وخوړ د ازمی وروسته يې يو بل ته وويل:

دا يوازې ماته بد خوند راکړ که تاته هم!



www.tanzona.com

***

زه سوچ کوم زه الين يم

- دا چټياټ دی ! ته رخصتی ته اړتيا لري!

- ته بنه وايي ما اورېدلي دی اوس د مريخ هوا بنه ده .

***

تا اورېدلي دی يو جادوګر د بد رنګی ځلورکلن کورس به څومره مده کې ختم کړ؟

په دوو ورځو کې

***

کانابيل څه ته وايي؟

- نه پوهيږم؟

- که ته خپل مور او پلار وخوري تاته څه شی وايي؟

- يتيم.

***

د وېښتانود جوړولو په وخت کې مه ترېچه!

***

درې د اکا زامن د يو اروپايي جادوګر کره ورغلل هغه خپله کلا ورووښووله او ورته يې وويل:

که څه غواړئ؛ نو دې سياچال ته ننوځئ او هلته يې وغواړئ!

په سيا چال کې د مړو او زيم بوی وو

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

یو ورننوت او ویي ویل:

زه غواړم د فیلم هنر مند شم

هغه ټام کروز شو

دویم ورننوت هغه و ویل:

زه غواړ م پاپ ستار شم

هغه روبی شو

دریيم ورننوت هغه وويل:

څه بد بوی دی

هغه یر شو

***

یو توریست د سویلي افریقا په صحرا کې چې ډیره ګرمي وه تږی شو درې کیلو متره هاخوا يې یوه کیږدی(خیمه) ولیده په ډیر تلوار یې ځان ورورساوه هلته یې د یو تن څخه وپوښتل:

اوبه لرئ؟

هغه ورته وويل: اوبه نه لرو خو نیکټایي لرو!

توریست په غوسه وويل : زه اوبه غواړم نیکټایي څه کوم!

هغه ورته وويل: اته مایله هاخوا یو بله کیږدی شته شاید هغه اوبه ولري.

توریست ایله اته ساعته وروسته هلته ورسید او د اوبو غوښتنه یې وکړه

یوه ورته ویل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

اوبه شته خو بې نیکتایي اجازه نشته چې دننه ولاړ شې او اوبه وڅښې

***

د کلف جنګ په وخت کې څو نفره امریکایي عسکر په دښته کې ورک شول درې شپې او ورځې بې له مرستې پاتې شول خواړه يې خلاص شول نو یو عسکر یې لویدیځ خواته او بل يې ختیځ خواته واستوه چې وګوری ها خواکوم شی شته که نه

یو يې راغئ او ویل يې: یو ښه خبر او یو بد خبر. بد خبر دادی چې هاخوا یوازې د اوبو پوچې شته او ښه خبر دا دی چې ښه ډیر دي

***

یو جنرال روغتون ته د ناروغو سرتېرو دیدن ته ورغی او هلته یې د یو ناروغ نه وپوښتل:

څه مشکل لرې؟

- صیب سفلس.

-څه تداوي يې درکړې ده؟

- هوصیب!هره ورځ بورس پینځه دقیقې.

څه آرزو لرې؟

- چې جوړ شم بیرته جبعې ته ځم.

جنرال د بل نه وپوښتل:

-ستا مشکل څه شی دی؟

- صیب اسهال یم.

- څه تداوي يې درکړې ده؟



www.tanzona.com

-هوصیب! برس پینځه دقیقې هره ورځ

-څه آرزو لرې؟

- چې جوړ شم بیرته جبعي ته ځم.

جنرال د درېیم  نه وپوښتل:

- ته څه مشکل لرې؟

- زما ژامه خوږېږي.

-څه تداوي یي درکړې ده؟

- هوصیب! برس پینځه دقیقې هره ورځ

- څه ارزو لرې؟

- زما یوازینی آرزو دا ده ، چې یوه ورځ ددې دوو نه مخکې ماته بورس راورسیږي.

***

یوې ښځې تلیفون پورته کړ د بلی خوا د هغې دمیره د ډاکټر تلیفون وو:

هغه ویل:

موږ یوه غلطي کړې ده، ستا د میره ټیسټ د بل یوه سره ګډ شوی دی نه پوهیږو چې هغه ایدز دی که الزیرمیر؟

ښځه:

- څه وکړم؟

- میره  دې د چکر لپاره بهر واستوه که یوه اوونی وروسته ژوندی راغی. نو بیا مه ورسره ویدیږه.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

***

تا زما عکس په موست وانټيډ (خطرناک مجرم) په اعلان کې ولید

***

دوه بندیان د پانسي منتظر وه د هغو نه وغوښتل شول خپل اخیرنی خواهش ووايي:

لومړي ویل: زه د براین ادم سره علاقه لرم او غواړم دهغه دا خواندن چې وايي« هر شی چې کوم» راته واوروئ

هغه بل ویل:نو ما تر دی خاندن د اوریدو مخکي مړ کړئ.

***

پر یو تشناب لیکل شوی وه:

دا سمه نه ده ، چې خپل سګرېټ په تشناب کې اچوئ؛ ځکه چې هغه لمدېږي او نا ممکنه ده یسا ولګیږی

پر یو بل تشناب لیکل شوی وه:

د سیما لپاره د کاغذ دواړه خواوي استعمالوی

***

یو زوړ هندوپه بس کې سپور و او د وره پورته یې کتل چې هلته لیکي وو:

پر مځکه مه توکئ!

هغه د لږ سوچ وروسته په چت تو کړه.

***

په دښته کې یو کاوبای یو هندو ولید چې غوږ یې پر مځکه ایښي وو



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

هغه ورته وويل: څه کوې؟

هغه ځواب ورکړ:

پينځه دقيقې تر مخه يو ګاډی له دې ځايه تېر شو

هغه ترې وپوښتل :

څنګه پوه شوې؟

هغه ورته وويل:

هغه زما غاړه ماته کړه

***

زويه ووايه پلار دی چيرې ښخ دی ؛ څکه د موټر کيلی يې په جيب کې ده.

***

يو ورځ زموږ په کلی کې د تبديلي په نامه يادېږي د هر چا چې کوم شی نه وي خوښ هغه تبديلوي.

خو ډيرې ښځې خپل مېږونه راولي

***

يو نفر ، چې له کړنګ نه ځريده او انډيوال يې هغه کشوی او نژدی وه چې رسی يې وشليږی نو

ځريدلی سړی په خواشينی سره وويل:

که رسی پرې شي څه به کوو؟

هغه ورته وويل : مه وارختا کيږه! بله رسی راسره ده



www.tanzona.com

***

يو سړي د خپل کور په باغچه کې يو سورى کينده.

ګاونډي يې  په شک سره ترې وپوښتل:

- دا څه کوې؟

- زما طلايي کب مړ شوى دى هغه ښخوم

- دا دومره غټ سورى د کب لپاره؟

- هو هغه د پيشو په نس کې دى

***

پر سړک دوورومي بانجانو چکر واهه يو مخ اوبل تر شا کرار کرار  روان وواو موټر وواهه.

لومړي بانجان نارې کړې:

- هې کيچپ.

***

يوماشوم د ګلاسکو سيند ته ولوېده او يوه لامبو وهونکي هغه  وژغوره.

د ماشوم پلار راغى او ويې ويل:

- هغه ځوان، چې زما زوى يې وژغوره څوک دى ؟

يو ځوان لاس پورته کړ.

د هلک پلار په غوسه ورته وويل:

- زما د زوى خولۍ دې څه کړه؟



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

***

د یو سکاتلنډي مور ورکه شوې وه؛ نو هغه د ورځپاڼې دوتر ته ورغی. چې اعلان ورته تېر کړی.

هغوی ورته وویل: که ډېر شیان ولیکې؛ نو ډېرې پیسې کیږی ؛د زړو شیانو اعلان بیا ارزانه دی

سکاتلنډي د لږ چورت وروسته دا اعلان نشر ته ورکړ:

- دویم لاس فورت موټر د خرڅلاو لپاره!

***

هره ورځ یو سړي په یو نوی بایسکل باندې دیوې کڅوړې ریګو سره د امریکا څخه مکسیکو ته تېریده

شپږ میاشتې پر له پسې یې همدا قاچاق وکړ. د سرحد مامور دی یو ه ورځ په یوه بار کې ولید او ورته یې وویل:

- رښتیا ووایه په شپږو میاشتو کې دې پربایسکل کوم شې قاچاقاوه؟

هغه ورته وویل :

بایسکل.

***

یو کاوبای، چې له رستورانته ووت هلته یې ولیده چې آس ته یې چا زرغون رنګ ورکړی دی نو په ډېره غوسه او تلوار بېرته رستورانټ ته ننوت اوناري یې کړې:

- چا زما آس رنګ کړی دی؟

یو غټ تور سړي پېنه پورته کړه او ویې ویل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ما

کاوبای وویل: یوازې غواړم ووایم، چې لومړی قلم یې وچ شوی دی .

***

کشیش د یو ناروغ د لیدو لپاره روغتون ته ورغی، ناروغ په اشاره د قلم او کاغذ غوښتنه ترې وکړه. کشیش قلم او کاغذ ورکړ هغه یو څه ولیکل او کشیش ته یې ورکړ . کشیش هغه پرزه جیب کې کېښودله . څو دقیقې وروسته ناروغ مړ شو

دوستان یې په ژړا راتول شول کشیش هم له جیبه هغه پرزه راوېستله او د ناروغ زوی ته یې ورکړه او ویې ویل:

دا یې اخیری وصیت دی.

زوی یې هغه پرزه په لوړ ږغ ولوستله

- محترم پلاره! ته زما د اکسیجن په پایپ ولاړ یې

***

یوې کشیشې خپلې مشرې ته وویل: ما ګناه کړې ده!

ما د یو سړی سره مینه کړې ده.

هغې ورته وویل:

- پاکې اوبه وڅښه!

بلې ورته وویل:

ما جنګ وکړ!

هغې ورته وویل:

- پاکې اوبه وڅښه!



www.tanzona.com

دربیمی په خندا وویل:

ما په پاکو اوبو کې بولی وکړې!

***

یوښوونکی، یو ډاکتر او یو وکیل په یوه ورخ مړه شول هلته ورته وویل شول:«هر چا چې د سوال سم ځواب راکړ هغه به جنت ته ځي اوناکامه به دوږخ ته»

له ښوونکي څخه یې وپوښتل:

په ۱۹۱۲ کې کومه بیړۍ ډوبه شوه؟

-تیتا نیک!

ته کامیابه شوې!

ډاکتره! په تیتانیک کې څو تنه وه

- صایب ۱۵۳۲ تنه

-شاباش

وکیله! ته د هغو نومونه ووایه؟

***

ولی باد بوی کوی؟

تر څو کاڼه هم پرې پوه شي.

***



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

# لندې خو پرړى خبرې

څرنګه پوهېږى ، چې تپوس په غوسه دى؟

کله چې هغه خپل سر په چپلاغه وهه

***

په لندن کې يوه (۱۱۵) کلنه ښځه شته چې د سر يو تار يې لا سپين نه دى

ځکه هغه کنجى ده.

***

ولې د کراتې استاد تور کمر بند تړلى دى؟

- چې پتلون يې ونه ښوييږي!

***

د ستومانه کونکي ښوونکي او کتاب  تر منځ توپير څه دى؟

ته نه شې کولاى د ښوونکي خوله وتړې.

***

ولې ښوونځى لکه شاور غوندې ده؟

ځکه په يوغلط چرخ سره تودې اوبه ترې تويږي

***

دهديرې د ښنګ خلک تر څه وخته پورې ژوندي نه شي ښخولاى؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

ترهغو چې مړه نه وي.

***

د ماليخواليايي د قبر په شناخته څه ليکل شوي دي؟

- ماويل چې ناروغه يم!

***

د پخواني مصر ماشومان ولې سربداله دي؟

ځکه د هغو پلرونه مېندې وې!

***

دډېرو سګرېټو څکولو پايله څه ده؟

- تابوت

***

ولې له دم څخه ښه درېور جوړېدای شي؟

ځکه هغه په ټولو شارټ کټو(نژدې لارو) پوهيږي.

***

ولې غواړې په بانک کې کار وکړې؟

هلته ډېرې پيسې دی.

***

ولې دی لاسونه رېږدی؟

له ډيرې خوشالی نه چې يو لاس بل لاس ګوري



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

***

خلک د چا لپاره خولۍ پورته کوي؟

- دډم لپاره.

***

دوړو باران ته وویل:

- که بس نه کړې نو زما نوم به ختم شي.

***

چې موټر تا ووهي، لومړی څه کوې؟

- د موټر لمبر پلېټ اخلم

***

د انسان د تللو خبرې کوونکې ماشین د یوې پېنډې ښځې د تللو په وخت کې ناري کړې:

- لطفا یو په یو وار

***

زه له ځان سره خبري کوم.

- دتعجب خبره نه ده ؛ ځکه بل څوک تا ته غوږ نه نیسي

***

دا ممکنه ده چې ووایې څه وخت یو سیاست پوه درواغ وایي؟

- هو بلی،هر کله چې هغوی شونډي وخوځوي.

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

که مینه خوب وي؛نو واده څه شی دی؟

هغه زنګ لړونکې ګړی ده.

***

تلویزیون د سترګو ژاولې دی!

***

هیڅ وخت مه غواړه چې ته غزلې ورزده کړې ته خپل وخت ضایع کوې او هغه خپه کوې.

***

کوم سړي که کومې مېرمنې ته د موټر ور خلاص کړ، پوه شه! هغه یې مېرمن نه ده.

***

پیسې لکه(؟) موادوی که وشیندل شی ښه حاصل ورکوي که یو ځای کوټه شي بیا بوی کوي.

***

واده هغه رومان دی،چې هیرو یې په لومړی چپرکې کې مړ کیږي.

***

د وېرې په وخت کې ډارونکی ډېر په خپلو پښو فکر کوي.

***

پست خلک سختې زبښې او ښه خلک یې تیروي .

***



www.tanzona.com

دسپي پروا مه کوه له خاوند  څخه يي باخبره اوسه!

***

بی اعلانه تجارت لکه به تیاره کي سترګک وهل دي.

***

زوړ په هر شی عقیده لري ، پوخ په هر شی شک لري او ځوان په هر څه پوهيږي.

***

عسکر په سوله کي لکه په دوبی کي د بخاری نل دی

***

دمور او پلار دمخ ګونځي له اولاده په ارث اخلي.

***

یو اولاد تاسو پلار یا مور کوی او ډیر مو ریفري!

***

کمېټه يو ګروپ دی ، چي دقيقي ساتي او ساعتونه لا لاسه ورکوي.

***

کنفرانس د مهمو خلکو ټولول دی ،چي يوازي څه نه شي کولی

***

هر وخت، چي يوه ټوکه وايي دا قانون دی او هر وخت چي قانون جوړ کړی هغه يوه ټوکه ده.

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

دلاور تر نورو پيينځه دقيقې مخکې وي.

***

ديموکراسي يو مذهب دی له چغال نه چغال ته.

***

ديموکراسی د بیزو له قفسه د سرکس اداره ده

***

دښمنان هير کړه ؛ خو نومونه يې مه هيروه!

***

کب او مېلمه د د ريو ورځو وروسته خوسا کيږی

***

مينه مزايل دی که د عمر په اخير کې راشی بيا بم اتوم کيږی

***

په ځنګله کې چې يوه ونه ولويږی؛ نوری ونې پرې خاندي.

***

د نړی غټ درواغ:

*دا تا ته زيان لري!

*زه بيا ستا خبر نيسم!

*په تاوانه ليلام دی!



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

* په ما باور وکړه!

*زه ستا په خوا یم!

***

یوه پنده ښځه بس ته وخته د یو سیټ خنګ ته ودریده او په لوړ ږغ یې وویل:

- که نارینه یې ودریږه او یوې ښځې ته اجازه ورکړه چې کښیني!

د شا له سیټه یوه ږغ کړه

که ربښتیا ښځه یې دا خلورو نارینه وو ته اجازه ورکړه چې ناست وي

***

زما خوله غټه ده څه وکړم؟

د غاښونو یو غټ بورس رانیسه!

***

دا خواږه د سپی لپاره ښه نه دی!

- هو له همدې کبله می تا ته راوړه

***

د ګنجی سر ګټه څه ده؟

- کولی شې خپلو ویښتانو ته په لامده ټوکر شکل ورکړې

***



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

ربړی دستکشي هغه شی دی ، چې په لاس يې کړې لاس ببله دې چې لوند شي پريولل کيږي.

***

د سپين ږيری اوځوان تر منځ توپير څه دی؟

ځوان کولای شي د غاښو د بورس کولو په وخت کې غزلي ووايي.

***

کريم بورس ته وويل: ما لږ کښېکاږه زه به بهر ستا سره ملاقات وکړم

***

يوې سترګي بلي ته څه ويل:

زموږ په منځ کې کوم شی بوی کوي!

***

زه دلته دښکنځلو لپاره نه يم راغلی!

- نو چيرې ځې؟

***

ولی دی زما عکس تر اوسه نه دی چاپ کړی؟

زما عکاس په توره کوټه کې ستا د فيلم سره يوازې وېرېږی!



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

# څناوران، مارغان او نور انډيوالان يې

ولی مار نه احمق کيږي؟

څکه پښې نه لري، چې وتښتي!

***

شتمنې چنګښې ته څه ويلای شي؟

د سروزرو وينه لرونکي خزنده.

***

په باران کې د عسلو مچۍ الوتلای شي؟

يا، بې له خپل کوچني ژيړ جاکټ څخه نشي الوتلای

***

يوې وزې يو زوړ قلم وخوړ او دويمې وزې ترې وپوښتل څرنګه و؟

بد نه وو! خو فکر کوم کتاب ترې ښه دی!

***

ولې پيشي خپل بريتونه نه خرييي؟

هغه غوره ګڼي، چې مچان پرې وشړي

***

د نړۍ وفاداره حشره کومه ده ؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

مچ، چې کوم شی یې خوښ شی؛ نو پرې موښلي

***

زمری: هر وخت، چې زه یو کشیش وخورم ناروغه کیږم!

بل زمری: زه پوهیږم څه چاره! د ښه سړی د پیدا کولو په پار خو ځان له لوږی نشم وژلای

***

یو پیل له زو څخه وتښتېده او د یوې زړې ښځې باغچې ته ورغی هغې چې تر اوسه یې پیل نه ولیدلی؛ نو پولیس ته یې تیلفون وکړ:

هله ژر راشئ! دلته یو عجیب او غریب حیوان راغلی دی له باغچې څخه ګوپیان په لکی شوکوي

پولیس : څه پرې کوي؟

- څه ووایم ته به هېڅ کله په هغه باور ونه کړی!

***

یو ړانده غوښتل له سړکه تیر شي؛ خو سپی یې نه ورسره ته؛ړانده له جیبه یو چاکلېټ راوویست او سپی ته یې نژدی کړ

یو لاروي ورته وویل:

- دسپي د نافرمانی په بدل کې دی دا مهربانه حرکت وکړ؟

ړانده : نه بابا، زه غواړم یوازی پوه شوم چې د هغه شا یې کومه خوا ده چې په لغته یې ووهم .

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

دا ډوډی توده او پسته ده !

هرومرو؛ ځکه ټوله شپه پيشو پرې ناسته وه

***

موږک څرنګه لوشل کيږي؟

تاسو يې نشوای لوشلی؛ ځکه سطل د هغه لاندې نه ايښوول کيږي

***

څرنګه د چنجي د سر خوا مالومولای شې؟

خندوم يې په کومه خوا چې يې موسکا وکړه هغه يې سر دی

***

کيکي لوبه څرنګه پيل کړه؟

يو – دوه – درې کيکي ځغله

***

يو سړی له سړک نه يوه کانګرو ونيوله او پوليس ته ورغی. پوليس ورته وويل:

زو بڼ ته يې بوځه

پوليس بله ورځ هغه سړی بيا وليده چې د کانګرو سره رهی دی

پوليس په غوسه ورته وويل:ما پرون درته وويل هغه زو بڼ ته بوځه!

سړي په خوشالی ورته وويل:

ماپرون زوبڼ ته بوت او نن يې سينما ته بيايم

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

يو توريست پر داسي اوښ ،چې د (فو) په ويلو يې ځغاستل او د ( امين) په ويلو درېده سفر کاوه؛ خو د توريست د ( امين) کلمه هېره شوې وه او اوښ همداسې د غره ګړنګ ته نژدې کېده. توريست، چې ځان مړينې ته نژدې وليد نو په دعا شو او ويې ويل:خدايه ما وبښه امين .

د امين په ويلو اوښ ودرېد. توريست يو سوړ اسوېلی وکېښ او د ژور ګړنګ په ليدو يې له خولې ووتل:

- فو

***

يو زمری په ځنګله کې رهی وو ، يو موږک يې وليد هغه ته يې په ځير ځير وکتل او په غرور يې وويل:

ډير وړوکی يې!

موږک په ډيره غوسه ورته وويل:

دا ډيره مده ناروغه وم.

***

يو هلک د بس په تم ځای کې ولاړ و،برګر يې خوړ او څنګ ته يې يوه ښځه د سپي سره ولاړه وه سپی ډير ناکراره او پر هلک يې ټوپونه وهل چې برګر ترې واخلی

هلک ښځې ته وويل: که نه خپه کيږی، چې يو څه يې وغورځوم

ښځی ويل : نه

هلک سپي پورته کړ او د ديواله هخوا يې وغورځاوه

***

يو سړي يو هلک ته وويل:غواړې زموږ د نوی سپی سره لوبې وکړې؟



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

هلک: هغه خو نه داړي؟

سړی:موږ هم غواړو په دی پوه شو!

***

ددوغنیو واده ته څه وايي؟

- نوی جال

***

سړی: زما سپی ښه نه دی! کوم ښه سپی نه پیژني؟

ډاکټر: معذرت غواړم ټول هغه ډاکټران چی زه پیژنم انسانان دي

***

یو سړی ډاکټر ته ورغی او د کوڅه ډبو سپیانو يي شکایت وکړ چي تولـه شپه غاپي او هغه خوب ته نه پرېږدی

ډاکټر د خوب ګولی ورکړی، سړی ډیر خوشاله شو او ولاړ

یوه اوونی وروسته بیرته راغی ډاکټر ته راغی او هغه ته يي بد بد وکتل

ډاکټر ورته وویل: ګولی دی ښې نه وې؟

سړی وویل: زه لا پخوا ډیر ستړی وم اوتا نور هم ستړی کړم. توله شپه د هغو پسې منډې وهم؛ خو هغوی دا ترخې ګولی نه خوري.

***

زه یو سپی رانیسم

کوم نسل غواړې؟



www.tanzona.com

سور، ژیړ...

نه،نه زه تور او سپین غواړم

- ولې؟

ځکه لیسانس یی ارزانه دی

***

یو سړی د حیواناتو د پلورلو دوکان ته ورغی، چې یو طوطي رانیسي، یو طوطي یې خوښ شو؛ خو د هغه په پښو تارونه تړل شوي وه.

دا د څه لپاره دی؟

دوکاندا ر وویل:

- داد سرکس طوطي دی ، که د ښي پښې تار یي کش کړی« هلو» وایي او که د کیڼې پښې کش کړې «ګوډ بای» وایي.

پیرودنکی : که یو وار دواړه تارونه کش کړې؟

طوطي چیغه کړه :لوېږم احمقه!

***

یو بوم یو دوکان ته ورغی د چوغکو د هګی پوښتنه یې وکړه.

دوکاندار ورته وویل : دا د کتابو دوکان دی.

بله ورځ بیا ورغی د چوغکو د هګی پوښتنه یې وکړه

دوکاندار ورته وویل: دا دکتابو دوکان دی

بله ورځ بیا ورغی ؛ خو دوکاندار په غوسه ورته وویل



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

که بله ورځ دی بیا د چوغکو د هګیو پوښتنه وکړه پښې دی میخوم

بوم بله ورځ بیا ورغی او دوکاندار ته يې وویل: مېخونه لری؟

دوکاندار ورته وویل: نه موږ میخونه نه پلورو!

بوم په خوشالی ورته وویل:

نو د چوغکو هګی راکړه

***

لومړی چوغکه: هغې الوتکې ته ګوره څومره تېزه ځي!

دویمه چوغکه: که داسې اور درپسې وی ته به د هغې تیزه شې.

***

داچي زه دی مېلمه کړم مننه ؛ خو دا سپې دی بد بد راته ګوري او لکی ښوروي

هغه ورته وویل: زه فکر کوم تاسو د هغه په پیالې کې چای څښئ

***

په یوه باراني شپه کې دوې کیکې له سینما څخه راووتې

- راځه چې کور خواته قدم ووهو!

اجازه راکړه يو سيې ونيسم!

***

یوزمری خپلو بچیانو ته ، چې د یوه سړی پسې يې د ونې شاوخوا منډی وهلې
ویل:ماتاسو ته څو واري ویلی دی چې د خپلو خوړو سره لوبې مه کوئ.

***



www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

يو سړی ، چې غوښتل يي د زمری غاښونه حساب کړی سريې د هغه په خوله کې  دننه کړ

خو زمری خوله بنده کړه ،چې وګوري سړی څو سرونه لري.

***

د کيکي او سپرې تر منځ توپير څه دی؟

کيکه برشته ده  که يې خورې!

***

که ايران الوتلای شول؛ نو څه پيښيده؟

اړيدو ، چې غتې چترۍ رانيسو!

***

يو سړی رانيول شوی سپی دوکاندار ته بيرته  بوت  او  ورته يي وويل:

- تا ويل سپي  د کور تربيه دی؛ خو دی هر چيرې چټلي کوي؟

- ما ويل د کور تربيه دی بل چيری نه ځي

***

ډاکټرصيب!زما ميره ويده و او يو موږک يې تير کړ؟

- ورشه د يخچال څخه يو ټوټه پنير واخله  د چنګک په تار يې وتړه او په خوله  کې يې ور دننه کړه چې موږک پنير وخوری چنګک به يې په خوله کې بند شي او بيا يې راکش کړه

- مننه صيب! زه به لومړی يو کب رانيسم

- کب څه کوې؟



www.tanzona.com

- لومړی باید پشو راوباسم.

***

ماری د کوشنی خور سره کبو نیولو ته تللي وه خو بیرته په غوسه کور ته راغله او مور ته يي ويل:

زه نوره دا نه بيايم!

ولی څه يي وکړل کبان يي وډارول؟

نه ، هغي توله چنجيان وخوړل.

***

دوه زمريان په ښار کي رهي وه يو بل ته يي ويل:

څه خبره ده ! دا سړک خالی ښکاري!

***

ولی ګوريلا غټي سترګي لري؟

- ځکه غټي ګوتي لري.

***

يو سويی ( خرګوش) د ا زموينې له لابراتوره وتښتېد او خپل پلرني ځای ته ولاړ، هلته يې نور سوييان وليدل او ځان يي هغو ته ورووپيژانده .

سلام زه نيني يم له لابراتوار څخه را تښتيدلی يم ما په مځکه ژوند نه دی کړی، تاسو څه کوئ؟

موږ هر ورځ د اوبو ډکي ګازرې له مځکي زا باسو او خوروبي . کاهو خورو...

ښه آزاد ژوند مو دی ؛ نو زموږ سره پاته کيږې؟



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

ډېر مې زړه غواړي؛ خو څه وکړم د سګريټو د يو  دود پسې کباب يم

***

يوزمري په ځنګله کې يو توريست وليد او هغه يې په يو کونج کې راګير کړ. توريست په زنګنو شو اودعا يې پيل کړه زمری هم دعا پيل کړه

توريست وويل: دا معجزه ده ، چې زمری هم زما سره دعا کوي او ما فکر کوی زما ژوند نور ختم دی

زمری ږغ کړل:

چوپ شه زه شکر کاږم.

***

يو سړی د يوې سمسارۍ او يوې چرګې سره بار ته ورغی او بار والا ته يې ويل :

ماته سکاچ او سوډا راکړه!

سمساری ويل: ماته ويسکی راکه!

بار والا اريان  شو او ويي ويل : دا تعجب دی ما تر اوسه سمساره نه ده ليدلی چې خبرې وکړي .

سړی وويل: دا چرګ دی   چې ويسکي غواړي سمساره يوازې د بيل والا سره خبرې کوي

***

يو سړی د الوتونکو ليلامځی  ته ورغی او هلته  يو طوطی په لس پونده بيه شو  يو هغه شل غوښت، بل په  ديرش وويل، بل څلوېښت وويل يو بل پينځوس وويل بيه يې تر سلو پونډو پورې ورسيدل

هغه طوطي رانيوی او پلورنکي ته يې وويل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

په دې طوطي مې ډيرې پيسې ورکړې نه پوهيږم خبرې به وکړي که یا!

پلورنکی ورته وويل: خود يې کوی که يې نه شوای کولی ؛ نو دا نرخونه چا درباندې پورته کول

***

د سرکس خاوند يو بارته ورغی هلته يې خلک پر يو ميز راټول وه او يوې هيلی پر يوې نسکوره شوې ګلدانی نڅاه کوله د سرکس خاوند دا هيلی په ګرانه رانيوله خو هغې په سرکس کې نڅاه نه کوله نو په ډيره غوسه يې هيلې بيرته بار ته يوړه او باروالا ته يې ويل:

هغه نڅاه نه کوي

بار والاورته وويل:

آيا د ګلدانی لاندې دی اور بل کړی وو؟

***

يوه جينی پر سړک روانه وه يو طوطي له دوکانه ږغ وکړ

هو جينی! خومره بد رنګه يي!

بله ورځ بيا طوطي ناري کړه

هوجينی خومره بد رنګه يي!

جينی دوکاندار ته شکايت وکړ دوکاندار ژمنه ورسره وکړه چې طوطی ته به نصيحت وکړي

بله ورځ چې جينی تيريده طوطی بيا ږغ کړل

هوجينی! هوجينی !هوجينی!



www.tanzona.com

هغې طوطي ته وکتله او ويې ويل څه وايې؟

طوطی ورته ويل:

خپله پوهيږی!

يو چرګ اوسرکوزی په بار کې خمار ناست وه، چرګ ويل:

راځه بزنس وکړو د همبرګر او هګۍ رستوران خلاص کړو!

سرکوزی ورته وويل:

تلوار مه کوه! ستا لپاره د يوې ورځۍ کار دی خو زما د مړينې او ژوند خبره ده.

***

پلار لورته:

څه کوې زويه!

- دسپي غابنونه بورسوم، هيڅ چورت مه وهه بورس دی ببرته لکه هره ورځ په خپل ځای ږدم

***

د افريقا په سفاری پارک کې د زمريانو له ځنګه يو ه ډله چينايي توريستان تېريده

يو زمری بل ته ويل:

- چينايي تيکاوي( خواړه)

***

ميړيانو اوپيلانو د ساکر لوبه کوله؛ خو پيل يو ميږی د پښو لاندې کړ

ريفری: ولې دی ميږی له ديښنو لاندې کړ؟



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

- مانه غوښتل هغه مړ کړم ما یوازې هغه ته لېنګته اېښوله.

***

یو مېړی او پیل واده سره وکړ ؛ خو د بده مرغه پیل د واده په سهار مړ شو

مېړی یو سوړ اسوېلی وکېښ او ویې ویل:

یوه شپه مینه او ټول عمر د قبر کیندل !!

***

سپی ته د ډوډی د ساتلو دنده مه ورکوه!

***

د یوې جنازې سره د جازباند پر ځای یو زمری روان و.

یوه سړي د زمری له خاوند څخه وپوښتل:

څه خبره ده؟

د زمري  خاوند لومړی روان سړی ته اشاره وکړه او ویې ویل:

زما زمری د هغه سړي وکیل وخوړ او دایې جنازه ده .

هغه ورته وویل: زه کولی شم ستا زمری په امانت واخلم؟

هغه ورته وویل: ښښنه غواړم دغو دوه سوه سړي چې د جنازې پیسې دی نوبت یې نیولی دی . ورځه د هغو پسې ودرېږه !

***

یوهلک د یوې بیزو سره بار ته ولاړ بیزو د زیتونو او لیمو ډبلي په یوه حمله خلاص او وخوړل بیا  مخي ته ولاړه  او د بلیارد یو ګین یې وخوړ

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

د بار خاوند په نیوکه ورته وویل: دا څه بلا ده هر شی چې وینې هغه خوري!

بیزو والا ورته وویل:

خیر زه یې تاوان درکوم

دوې اوونۍ وروسته بیا هغه هلک د بیزو سره هغه بار ته ولاړ

بیزو له واره د مربا بوتل مات کړ توی شوې مربا یې په خپله شا کې دننه کړه هغه یې بیرته راویستله او په خوله یې کړه

باروالا د بیزو خاوند ته په ارپانی وویل:

ته ګوره دا بیزو دی څه کوي دا څرنګه خوړل دی؟

هغه ورته وویل : زه پوهیږم! هغه دبلیارډ د ګین له خوړولو وروسته هرشی لومړی اندازه کوي بیا یې خوري.

***

دری یران سهار له خوبه راکبیناستل یو یې لاندې ولاړ پر څوکی کښیناست او کاسه یې ولیده چې خالي ده نو په چیغو شو

دا زما شیر برنج چا وخوړ؟

مور یې ورته وویل:

ما تر اوسه هغه نه دی پوخ کړی !

***

د اوبش جونګي پلار ته وویل:

دا زموږ بوک د څه لپاره دی؟

- هغه وازګه ده د لیری سفر لپاره ده چې وړی نه شو



www.tanzona.com

- دا وريځې مو ولی دومره اوږدې دي؟

- د خاورو د توپان لپاره

- ولي دومره غټې او پلنې پښې لرو؟

چې پر ريګو باندې ونه ښوييږو

مننه پلاره ! نو دلته به ژوبڼ کې څه کوو؟

***

يوه کانګرو له ژوبڼ نه وتښتېده؛نود ژوبڼ آمر امر وکړ، چې د هغه جالی دومتره نوره جګه کړی؛ خو بله ورځ يې بيا هغه ولیده چې بهر چکر وهي .

بيا امر وشو جالی دوه متره نوره هم جګه شوه ،دی کار همداسې دوام درلود او د جالی جګوالی تر سلو متره ورسیده .

د ژوبڼ امر هک پک ولاړ و او له ځان سره يې ویل څه وکړم؛ چې دا کانګرو راونه وځي!

کانګرو ورته وویل: د جالی ور وتړه!

***

يو سړی د ژويو دوکان ته ورغی هلته يې يو توتی بيه کړ

دوکاند ار ورته وويل: دا يو (٥٠٠)، هغه بل (١٠٠٠) او دا پورته يې (٢٠٠٠) ډالره بيه لري

دا اول يې په قانون پوهيږی او دا دويم يې تيزه ژبه لري او دا دريیم يې په کړو وړو چندان نه پوهيږی

- نو ولي دومره ګران دی؟



www.tanzona.com

- ځکه دا دوه نور ورته مشر انډیوال وایي!

***

د یو بزګر پسه ناروغ و هغه یي وترنر ته بوت . وترنر ورته ویل

هغه ته موسیقي وغږوه!

سبا ته بزګر راغی او ویل یي

پسه مړ شو

- تا د چا موزیک ورته وغږاوه؟

- دفرانک سناترا!

- ولي په تا دی بل موږیک وددریږی!!

***

د کیشپ کورنی په مېله وتلی وه ډېر وخت یي ونیوه، چي د مېلي ځای ته ورسېده هلته یي ولیده ، چي بسکېټ یي هېر شوی دی نو خپل ځوان زوی ته یي وویل:

ته ولاړ شه او بسکېټ راوړه!

زوی یي ورته وویل:

که زه ولاړم ستاسو بیا د کوک ښبنئ!

- نه یي ښبنو!

ځوان ولاړ دوساعته تیر شول؛ خو هغه مالوم نه شو؛ نو پلار یي وویل هغه کوک راواخله اوس به هغه هم راورسیږي

ځوان له یوی ډبري سر راپورته کړ او ویي ویل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

که تاسو کوک څښئ؛ نو زه بیا نه څم

***

ستاسو کومه کینرې زما د مېرمنی لپاره لرئ؟

- ښښه غواړم موږ یې نه بدلوو

***

Copyright: www.tanzona.com

# دسیاست ملنډې

کلینټن په زاپر کېټ کي یو زوړ بوتل پیدا کړ د بوتل سر یي خلاص کړ د هغه څخه یو دیب راووت او کلینټن ته یي ویل:

- زه ستا مریي یم هر څه چي غواړې ووایه!

- د منځني ختیځ موضوع حل کړه!

- بښنته غواړم بل شی وغواړه!

- زه غواړم د مونیکا ( د هغه سکرتره چي دی ورسره بدنام شو) بزنیس له منځه یوسه!

دیب ویل:

- ښه دی ته صبر وکړه زه یو وار بیا د منځني ختیځ نخښي ته یو نظر واچوم.

***

پوپ، بوش او یو توریست په یوه الوتکه کي سپاره وه پیلوټ د الوتکي د خرابیدو خبر خپور کړ او هم یي ویل:

هلته دوه پراشوټه شته تاسو خپله هغه وویشئ

بوش له واره یو حمله کړ او ځان یي وغورځاوه

پوپ توریست ته وویل:

که څه هم زه د عیسویانو مشر یم خو سپین ږیری یم او سم ځای ته ځم نو دا پراشوټ یي ستا او څه زویه ځان وژغوره!

توریست ورته وویل:



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

- هیڅ غم مه کوه  پلاره !هغه بل زما د شا بکس واخیست او توپ یې کړه

***

کلینتن په سپین مانۍ کې ناست وو د کړکۍ نه یې بهر کتله په واوره کې چا په متیازو لیکلي وه:

مړ دی وی رییس جمهور

کلینتن خپل د ګارډ مشر راوغوښت امر یې وکړ ژر څیرنه وکړی چې دا چا لیکلی دی؟

د ګارډ مشر مازیګر راغی او هغه ته یې راپوټ ورکړی او ویل یې:

یو بد خبر او بل بدتره خبر

- اول بد ووایه!

له  تیسټ څخه مالومه شوه  چې بولي د الګو (د کلینتن مرستیال) دی

کلینتن نور هم په څوکۍ کې ښخ شو او ویې ویل:

ښه زما مرستیال دا کار کړی دی!

او  هغه بد تره خبر

د هغه بدتره خبر د ا دی چې لیک ستاد میرمنی هیلرۍ دی

***

خبرنګار: بی خطره مینه څه ته وایې؟

کلینتن: هغه وخت چې هیلرۍ بهر وي

***

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

یو انګریز یو فرانسوی او د جولیاروبرټ سره په یوه اورګاډي کې سفر کاوه کله ،چې اورګاډی په تونل ننوت د یوې چپلاغی غږ د « اخ» سره پورته شو ،چې اورګاډی له تونله راووت دواړه سم سره ناست وه؛ فرانسوی په خپل مخ لاس نیولی و او سترګه یې پړسېدلې وه.

جولیا فکر کوي شاید فرانسوی غوښتل ما مچ کړی او په خطا کې یې انګریز مچ کړی دی ؟!!!

فرانسوی فکر کاوه شاید انګریز غوښتل جولیا مچ کړی او هغې زه په خطا ووهلم؟!!

انګریز فکر کاوه ښه ټینګ می وهلی دی، ځان تینګوه زویه، بل تونل ورپسې دی

***

یو روسی جاسوس د ویلایور کلی ته واستول شو هغه ته یې د جان ادرس او شفر (هیلۍ په هوا شوه) ورکړل شو

جاسوس ادرس غلط کړ او یوې بلې کوڅې ته ولاړ هلته یې یوه دروازه وټکوله یوې ښځې دروازه پرانیستله

هغه ورته ویل:

- هیلۍ په هوا شوې!

هغې په مسکا ورته وویل

ښه ستا جان جاسوس په کار دی هغه دري کوڅې هاخوا اوسیږی

***

یو سکاتلندی د یوه بکس سره په لندن کې بس ته وخوت موټروان ورته ویل:

یو پونډ ستا او دیرش پنسه دی د بکس کیرِی.

خو سکاتلندی ورسره ونه منله

Copyright: www.tanzona.com


www.tanzona.com

ډریور ورته ویل:

که پیسې رانه کړی بکس دی دریاب ته غورځوم

هغه پیسې نه ورکولې نو موټر وان د هغه بکس دریاب ته وغورځاوه

سکاټلندی په ژړا شو او موټر وان ته یې ویل:

ته بدماش نه شې کولی ماچور کړی زما زوی دی دریاب ته وغورځوی

***

کلینټن، نیلسن ماندیلا اوټونی بلیر په یوه الوتکه کې سفر کاوه کلینټن ناری کړی:

لکه چې د امریکا په سر یو زه د ازادی مجسمه حسوم

ربښتیا هم امریکا وه

لږ وروسته ټونی بلیر وویل:

لکه چې د لندن په سر یو! ځکه د بیګ بین ساعت حسوم

ربښتیا هم لندن و

دوساعته وروسته نیلسن ماندیلا غږ کړ

لکه چې جنوبی افریقا ده ! ځکه زما ساعت ورک شو

ربښتیا هم افریقا وه

***

پولنډ لس زره د دواپاشی ټانکونه رانیول چې موټروانی یې زده کړه

پر روس یې برید وکړ

***



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

په روسیه کې وچې ډوډۍ ته یو اوږد کتار ولاړ و یو سړی له ډیري ولاړی ستړی شو ویل یي زه ځم ایلسن وژنم دا ټوله دده له لاسه .

درې ساعته وروسته بېرته راغی او په خپل ځای کې چوپ ودرید

ملګري یې ترې پوښتنه وکړه:

هغه دی مړ کړ؟

- یا بابا ! هلته ددې ځایه سل چنده لوی کتار و.

***

یو روسی د لاډا کمپنی ته د موټر د رانیولو پیسي تحویل کړی

د پلورلو مامور ورته وویل:

تبریک درته وایم لس کاله وروسته به درته تسلیم شي!

سړي په خوشالی وویل:

- دسهار له خوا که مازیګر!

***

یلسن مړ شو او دوزخ ته ولاړ اوهلته یي له یوه شیطان وپوښتل:

زه غواړم د نړی د لیډرانو سره اړیکی ونیسم د تلیفون  د استعمال اجازه راکړه!

هغه ورته وویل:

سمه ده دغه د تلیفون د چارچ لست دی:

امریکا شل ډالره یوه دقیقه ، جنوبی امریکا ۱۸ ډالره، لندن پینځلس ډالره ، چین دری ډالره او روسیه  دوه سینټه...



www.tanzona.com

يلسن په حيراني  وپوښتل:

دا روسيه ولې دومره ارزانه ده؟

شيطان وويل :

دا محلی کال دی

***

يوه کشيشه مړه شوه اوجنت ته ولاړه، خو هلته ځای نه و بيرته مځکې ته راواستول شوه او ورته وويل شول په اوونی کې يو ،يو تليفون کوه که ځای خالی شو بيا به راشي.

بله اوونی هغې تليفون وکړ: سلام زه مارګريت يمه!

ما نن يو سګريټ وڅکاوه دا خو زما چانس نه کموی؟

-نه! کوټه لا تياره نه ده،

بله اوونی يې بيا تليفون وکړ:

سلام زه مارګريټ يمه!

ما شراب وڅښل دا خو زما چانس نه کموی؟

-نه! کوټه لا تياره نه ده.

بله اوونی يې بيا تليفون وکړ:

سلام زه مارګريټ يمه!

نن يو سړی زما څخه يوه مچه واخيستله دا خو زما چانس نه کموی؟

-نه! کوټه لا تياره نه ده،

بله اوونی يې بيا تليفون وکړ:

Copyright: www.tanzona.com

-سلام زه مارګريټ يمه!

د ها خوا ځواب ورکړ شو:

- نور مه پسي ګرځه!

***

دوه کاله مخکې په کويت کې ښځې دنارينه وو دوګامه وروسته تللي د ګلف له جنګه وروسته نارينه د خپلو ميرمنو نه لس ګامه تر شا تله

آيل دا ديموکراسي نه ده ؟

البته که د مخکې د مين په پار نه واى

***

د بيړی ادميرال ته خبر وکړ شو ، چې يوه ددښمن بيړی له ليرې مالوميږي.

هغه امر وکړ : ژر زما سور کميس راوړئ!

بېرته اعلان وشو، چې خطر رفع شو

يوګړی وروسته بيا اعلان وشو

-دوي ددښمن بېړی مالوميږی!

هغه امر وکړ : ژر زما سور کميس راوړئ!

ژر بېرته اعلان وشو، چې خطر رفع شو

ادميرال خپلو کارکونکو ته وويل:

زما موخه له سور کميس څخه دا ده که زه په جنګ کې ټپي شوم ، چې ستاسو مورال خراب نشي او جنګ ته ادامه ورکړئ



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ټولو ویل څومره دلیر ادمیرال دی!

بله ورځ بیا اعلان وشو چې د دښمن دولس جنګي بېړۍ را نژدې شوې دی

ادمیرال امر وکړ ژر زما ژیر نیکر راوړئ

***

په یوه دښته کې یو لوی فلم جوړېده یو هند راغی او د فلم ډایرکټر ته یې وویل:

سبا باران کیږي!

رښتیا هم سبا باران وشو.

بله ورځ بیا دا هندو راغی او ډایرکټر ته یې وویل:

سبا توپان راځي!

رښتیا هم سبا توپان شو

هندو ځو ورځي مالوم نشو ډایرکټر یو غټ سکرین په نظر کې و؛ خو نه پوهیده د سبا هوا به څرنګه وي نو دو نفره یې نژدې کلی ته واستول، چې هغه هندو پیدا کړی او د هوا پوښتنه تري وکړي .

هغه په ربړ سره هغه هندو پیدا کړ او له هغه څخه یې د سبا د هوا په اړه وپوښتل:

هغه ورته وویل : نه پوهیږم!

- ولې؟

ځکه دا د و ې ورځي کیږي رادیو مې خرابه شوې ده.

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

يو يهود په يوه ټکسي کې د غره پورته خواته  سفر کاوه چې نابېره د موټر بريک له کاره ولوېد

موټر وان يهود ته وويل:

بريک کار نه کوی څه وکړم

هغه ورته وويل:

- ميتر بند کړه!

***

يو مسلمان، يو هندو او يو وکيل سره ملګري وو يوه کلی ته ورسيدل او هلته يې شپه شوه يوفارم ته ورغلل او هلته دو بستری وې؛ نو د فارم مالک ورته وويل:يو نفر مو بايد په غوجله کې ويده شي .

مسلمان غوجلې ته ولاړ؛ خو څو دقيقي وروسته بېرته راووت او ويل يې:

هلته سرکوزی دی زما مذهب اجازه نه راکوي د هغه سره يو ځای ويده شم

هندو اړ شو، خپل پتو يې واخيست او غوجلې ته ولاړ خو پيينځه دقيقی وروسته بيرته راووت او ويل يې:

هلته زما مور »غوا« ده زما مذهب اجازه نه راکوي د هغې سره يو ځای ويده شم

وکيل اړ شو غوجلې ته ولاړ .

دوې دقيقی وروسته غوا او سرکوزی دواړه راووتله.

***

يو يهود د خپلو دوکانونو کرايه ټوله کړه او د بغل په جيب کې يې کېښووله ، چې کورته ورسيد ؛ نو په ژړا شو او ويل يې:



Copyright. www.tanzona.com

زمادتولو شوو کرايي( ۵۰۰) ډالره ورک شوي دي.

میرمني يې ورته وويل:

تا د پتلون جیب وکوت؟

- هو!

د کورتی جیبونه دې وکتل؟

- هو نشته،

- دبغل جیب دی وکوت؟

- یا! نه دی مي کتلی ته غواړې د هغه په کتلو خپل اخرى امید هم دلاسه ورکړم

***

یو سوالګر یوه زوړ یهود ته وويل:

- دادرې ورځې مې څه نه دی خوړلي!

- خدای دی نور هم قوت درکړی

***

امپراتور سمورای ته درې تنه تورزنان، چې یو يې چینایي بل يې جاپاني او دریم يې یهود و راغلل .

لومړی چینايي ور وړاندی شو یو مچ يې د ا ورلګیت له قوطی نه ایله کړ او په یوه ګذار يې هغه دوه ټوټی کړ .

دویم یو جاپانی یو مچ د اورلګیت له قوطی نه خوشې او په یوه ګذار يې هغه څلور ټوټې کړ.

دریم یو یهود له اور لګیت له قوطی نه مچ ایله کړ او ګذار يې پرې وکړ



www.tanzona.com

امپراتور ورته وویل:

هغه خو دی مړ نه کړ!

یهود کټ کټ په خندا ورته ویل

هغه مې سنت کړ!

***

دیوه شتمن سړی د ژوند یو خواهش دا و ، چې پوپ ووینې نو روم ته ولاړ هغه یې له لېرې ولید؛ خو د خبرو کولو امکان یې ونه موند.

خو هغه د یو ګدا سره ودرېد او به غوږ کې یې څه ورته وویل:

شتمن سړی هغه ګدا ته ورغی او د هغه سره یې کالی بدل کړه او ببرته په خپل ځای کې ودرید چې پوپ ده ته راورسید د ده سره ودرید او په غوږ کې یې ورو ورته وویل:

ما یو ګړی مخکی تاته وویل چې پتلون دی وکنده!

***

یو زوړ کشیش یو ځوان کشیش مېلمه کړ ځوان کشیش د هغه د ځواني او ښکلې اشپزې په لیدو شکمن شو او د هغه یې وپوښتل:

لاره ورسره لرې؟

هغه ویل:

نه توبه توبه.

یوه اوونی وروسته اشپزې شکایت وکړ، چې د ځوان مېلمه وروسته د سپینو زرو چمچه ورکه شوې ده .

زاړه کشیش ځوان کشیش ته یو لیک ولیکه :



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

محترم پلاره!زما د سپینوزرو چمچه له هغې ورځې چې ته راغلې يې ورکه ده زه نه وایم تا اخیستې ده یا نه !

زاړه کشیش ته دوې ورځې وروسته یو لیک راورسید:

محترم پلاره! زه نه وایم ته د هغې سره ویده شوی یې یا نه لیکن که ته په خپل ځای کې ویده شوی وای؛ نو تا به هرومرو هغه په خپله بستره کې پیدا کړې وای .

***

مشره کشیشه د یوې ځوانی کشیشی سره بحث کوی

که دشپې روانه یې او یو سړی د باندې برید وکړی ؛ نو څه باید وکړې؟

خپل کالي باسم او هغه ته وایم خپل پتلون وباسه!

- بیا څه کوې؟

ځغلم، د هغه پتلون په پښو کې وی او نه شی ځغاستلای.

مشره کشیشه:

وی کاشکې مې مخکې پوښتنه کړی وای.

***

د کشیشی سلکی څرنګه درویږ؟

ورته وایم : امیندواره خو نه یې؟

***

یو نشه خمار بارته ورغی د یوه کشیش تر څنګ کیناست د هغه په کالو د لبسرین نښان و، له جیبه یې د یو بوتل سر مالومیدی له میز له سره یې ورځپانه پورته کړه او د هغه په لوستلو شو بیا یې مخ د کشیش خواته کړ او ویې ویوښتل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- پلاره! د ښځو د پرسيدو ناروغی له څه شی پيدا کيږي؟

کشيش په غوسه ورته وويل:

له بې بندوباري څخه، د شرابو څخه، د فاحشه خانې څخه...

کشيش له ځانه سره ويل دا ښه نه ده چې دی مې توهين کړ ، نو په نرمي يې ترې وپوښتل:

ښښه غواړم زويه ! له څه وخت راهيسې په دې ناروغي اخته يې؟

شرابي ځواب ورکړ:

زه نه يم اخته په ورځپانه کې ليکل شوی ، چې پوپ پرې اخته دی

***

يو هندو د نيويارک په يوه چوک کې ولاړ و او پينځه ډالره يې د ځانګړې لوبې لپاره غوښتل، که هغه په يوه ليدنه نه وای ويلي، چې د کوم ځای يې؛ نو پنځوس ډالره يې تاوان ورکاوه

لومړی يو کاوبای راغی هندو سر تر پايه هغه له سترګو تېر کړ په بوټو يې د آس لړ چټلي هم ليده کيده هندو ورته وويل:

-ته د مونتانا يې؟

- رښتيا ده!

بل يو، چې د هغه بوټونه ښه رنګ شوې وه د هغه مخی ته ودريد او پوښتنه يې وکړه :

زه د کوم ځای يم؟

- ته د کانزاس يې

-څه پوه شوې؟



www.tanzona.com

- تا پتلون چپه اغوستی دی

***

یو تکزاسي د نیاګارا افشار څنګ ته د یو نیویارکی سره ولاړ و

نیویارکي ورته وویل:

زه شرط کوم په تکزاس کې داسي جړوبی( افشار) نشته؟

- بلی ربنتیا وایي موږ ډیر تکړه نل دوانان نه لرو .

***

یو تکزاسي بزګر استرالیا ته ولاړ او د یوه فارم دديدن په وخت یي وویل:

زموږ غواوي ستاسو له غواوو دوه چنده غټي دي .

په دې وخت په سرک څو کانګرو راښکاره شوي .

د استرالیا بزګر ورته ویل:

تاسو هم ملخان لرئ؟

***

یو انګرېز، ایرلنډي او یو سکاټلنډي یو ځای کار کاوه او هره ورځ یي له ځانه سره تیاره ډوډی راوړله

یو ورځ انګریز خپل د ډوډی بکس خلاص کړ او چیغه یي کړه: که بله ورځ بیا زما میرمن د هګیو ساندویچ راکړی زه قسم خورم ، چي ځان وژنم .

سکاټلنډي چي خپل د ډوډی بکس خلاص کړ هغه هم چیغه کړه: که بله ورځ بیا زما میرمن د غوایي ساندویچ راکړی زه قسم خورم ، چي ځان وژنم .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

ایرلنډي خپل د ډوډۍ بکس خلاص کړ او چیغه یې کړه: که بله ورځ مې بیا د بیزو ساندویچ راوړی زه قسم خورم ، چې ځان وژنم .

په سبا بیا د ریې سره یو ځای شول چې انګریز د ډوډۍ بکس خلاص کړ هغه بیا د هګیو ساندویچ و نو هغه ځان له غره وغورځاوه او مړ شو .

سکاټلنډی چې د ډوډۍ بکس خلاص کړ هغه بیا د غوایي ساندویچ و نو ځان هم له غره وغورځاوه او مړ شو.

ایرلینډی چې د ډوډۍ بکس خلاص کړ هغه بیا د بیزو ساندویچ و هغه هم ځان له غره وغورځاوه او مړ شو.

په جنازه کې ددرو سره کونډې یو ځای شوې او د یو بل سره یې د مېړونو د مړینه د سبب په اړه خبرې کولې.

انګریزی ویل: ما فکر کاوه د هغه هګۍ خوښه ده او سکاټلنډی ویل ما فکر کاوه د هغه د غوا ساندویچ خوښ دی؛ خو د آیرلنډي کونډې ویل زه پوه نه شوم ؛ ځکه هغه خپله ساندویچ خپله جوړوی .

***

یو خبریال د څلورو تنو یو روسي، یو سعودي ، یوکوریایي او یو نیویارکي څخه وپوښتل:

وبښئ! ستاسو نظر د غوښو د کمبود به اړه څه دی؟

سعودي ویل : کمبود څه شی دی

روسي ویل: غوښه څه شي ده

کوریایي ویل:نظر څه شی دی

نیویارکي ویل: وبښه څه شی ده ؟

***



www.tanzona.com

سیمرنوف روسی کمیډین وايي لومړی وارمي  چې پوډري شودې په لندن کې ولیدې چې یوازې اوبه ورسره ګډیږي.

بیا مې د نارنج جوس ولید چې یوازې اوبه ورسره ګډیږي بیا مې د کوشنیانو پوډر ولیدل ما له ځانه سره وویل:

دا عجب مملکت دی!

***

هیلري کلینټن یو هلک ولید ، چې پاپیان یې پلورل

هلک وویل:

دا ډیر هوښیاران پاپیان دی ! هغه ټول دیموکرات دی .

بله ورځ بیا هیلری راغله چې یو پاپی رانیسی او پوښتنه یې وکړه: دا په څو دی؟

- په پینځوس ډالره ؛ ځکه دا جمهوریت خوا دی.

- یوه اوونی مخکی دی ویل هغه  دیموکراتیان دی اوس بیا وایی هغه جمهوریت خوا دی

هغه ځواب ورکړ:

هغه وخت یې را سترګې نه وې خلاصې کړی

***

رییس جمهور که کوم شی خپلو میرمنو ته  ورنه کړي، نو خپل هیواد ته یې هرومرو ورکوي

***

دسیاستمدارانو یو ډک موټر په کلی کې چپه شو او یو بزګر هغوی ښخ کړل

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

څه موده وروسته یو پولیس د هم هغه ځای څخه تیریدی د موټر ټوټې یې ولیدې؛ نو له بزګر څخه یې پوښتل

دا د موټر ټوټې ؟

بزګر وویل:

- دلته یو د سیاستمدارانو موټر چپه شو ټول مړه وه که څه هم ځینو ویل موږ ژوندی یو خو ته پوهیږی هغوی څومره درواغ وایي ؛ نو ټول مې په همدې غونډی کې ښخ کړل.



www.tanzona.com

# لیونیان، نشه یان او ...

پر سړک یو شرابی یو ښځه ولیده چي د یو هلک سره رهي ده شرابي ورنږدې شو او ورته يي وويل:

خومره بد رنګه هلک دی؟

ښځه ددې خبری په اوریدو په ژړا شوه، لږ هاخوا یو بل شرابي تر ې وپوښتل

څه خبره ده ولې ژاړې؟

هغې په ژړا ورته وويل:

هغه شرابي ماته ښکنځل وکړه

شرابي په خواځوږی ورته وويل:

داتیشو (کاغذی دسمال) واخله او خپلي اوښکي پرې پاکی کړه او له جیبه يي یو کیله راویستله او ښځي ته يي ونیوله او ورته يي وويل:

دا دې بیزو ته ورکړه!

***

یو سړی یوه جرابه درلوده او هره ورځ يي هغه په پښو کوله؛ خو د اوونی په اخیر کې يي بوټونه په پښو تنګ شول .

***

ستا په جرابه کی سوری شته؟

- نه



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

نو ښنګه دی په پښو کړي دي.

***

ډاکټر: تا نن بیا سور نیکر اغوستی دی؟

ناروغ څه پوه شوې؟

ډاکټر: ډېر ساده تا پتلون نه دی اغوستی .

***

یو سړی د خیاط هټۍ ته ورغی هلته یې ولیدل، چې یو سړی له ښځه ځوړند شوی دی ، نوله خیاط څخه یې وپوښتل:

- هغه سړی هلته څه کوي؟

خیاط ورته وویل:

هغه فکر کوی چراغ دی!

سړی ورته وویل:

نو ته ولې نه ورته وایې، چې هغه چراغ نه دی؟

خیاط ورته وویل:

- څه شی په تیاره کې کار وکړم.

***

یو لیونی له دارالمجانین څخه ووت او ټیکسي ته یې وویل:

ما دارالمجانین ته بوځه!

- دغه دارالمجانین دی



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- ښه ! دا پينځه ډالره واخله خو ګوره بل وار مې دومره تيز مه رسوه!

***

يو نژدې ليد سړی د کورپه لاره کې يو نشه يې پر زينه پروت وليد له هغه څخه يې وپوښتل:

- ته دلته ژوند کوې؟

- هو! دويم پوړ کې

- غواړې مرسته درسره وکړم!

- هو!

نو نشه يې د لاسه ونيوه او دويم پوړ ته يې پورته کړ د هغه د ميرمنی له ويرې څخه يې ور پرانيست او هغه يې ورپورې وهه او بيرته لاندې ولاړ يو بل نشه يی پروت هلته وليد هغه يې هم د لاسه ونيوی دويم پوړ ته يې بوت ورېې پرانيست او هغه يې هم ور پورې وهه او کله چې لاندې راغی يو بل نشه يې وليد چې هلته پروت دی هغه ته يې وويل:

مرسته درسره وکړم؟

خو نشه يې پوليس ته غږ کړ او هغه ته يې وويل:

دی دا درېيم وار دی ما دويم پوړ ته پورته کوی او د لفټ له شفت څخه مې لاندې راغورځوي.

***

يو نشه يي په بار کې يو ښځه وليده نو د بار والا څخه يې وپوښتل:

هغه ښځه مې خوښيږی زه يو پيک شراب ورته رانيسم ته ورته ووايه، چې زما له خوا دی .



www.tanzona.com

بار والا ورته وويل:

هغه په پيسو هر کار کوي!

نو نشه يي ورغی او هغې ته يي ويل:

زه خبر شوم ته په پيسو هر کار کوی همداسې نه ده

هغې ورته وويل:

هو همداسی ده

نشه يي دوه سوه ډالره ورته ونيول او ورته يي ويل

دا واخله زما کور رنګ کړه

***

دوه نشه يي هلکان ناست وو

ته لکه زه يي رښتيا د کوم ځای يي؟

- ددوبلين.

-کومه کوڅه؟

-هيديم

-دکور لمبر

-دری

-ستا د پلار نوم؟

- شميت

بلکل د تعجب خبره ده نو ته زما څه کيږی دواړه له تعجبه تاوتاو کيدل

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

یو سپین ږیری بل ته ویل:

هو خدایه! بیا غبرګولیان نشه شول !

***

یو سړی بار ته ننوت او دوه پیکه شراب یي وغوښتل له جیبه یي یو عکس راویست هغه ته یي څو دقیقي څیر څیر وکتل او بیا یي د دوه نورو پیکو غوښتنه وکړه

نیم ساعت وروسته یي بیا له جیبه یو عکس راویست هغه ته یي څیر څیر وکتل او د دوو نورو پیکو فرمایښت یي ورکړ ،

همداسی یي کوله

یو سړی ترې وپوښتل:

- رښتیا هم بیلتون بد شی دی خیر ته دی ژوندی یي

او په خواخوږی یي ورته وویل:

دا دچا عکس دی؟

- دا زما د میرمنی عکس دی ګورم چې کله یي تندی سم شی چې کور ته ورشم

***

یو لیوني ساینس پوه یوه چونګښه پر مځکه کینودله او ویي ویل:

- ټوپ! هغې ټوپ ووهه

هغه یادښت کړه :څونګښه په څلورو پښو ټوپ وهلی شي

بیا یي یو پښه ترې پرې کړه او هغې ته یي ویل:

Copyright: www.tanzona.com

- ټوپ! هغې هم ټوپ کړه

هغه یادښت کړه :په درو پښو هم ټوپ وهلی شي.

بیا یې دوې نورې پښې ترې پرې کړې او ورته یې ویل:

ټوپ!

هغی ټوپ ونه وهه

هغه یادښت کړه: هغه بې پښو کنه کیږي

***

یو سړی بار ته ننوت او یو پیک مارتین ( شراب ) یې وغوښت

بار والا ترې وپوښتل:

د کوم ځا ی یې؟

- د پنسلوانیا

- څه کا رکوی؟

د مړو حیواناتو د وړولو موټر لرم

د بار والا د ناستو نشه یانو ته وکتل او وویل:

دی هم لکه ما غوندې دی

***

په ژمي کې دوو بلوندو( ژیړ وېښتان لرونکو ښځو ) خپل اسان په ځنګله کې ایله کړه: یوې بلی ته ویل:

- خرنګه پوه شو، چې کوم یو ستا او کوم یو زما دی؟

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

- زه د خپل آس لکۍ پرې کوم .

دواړه په پسرلی کې ځنګله ته ورغله او يې ليدل د دواړو لکۍ يو شان شوی دی

دواړو يو بل ته په هېښتيا وکتله

اوس به څه کوو؟

يوې سر وګراوه د يوې دقيقې وروسته يې وويل:

دواړه يو ډول دی خير دا سپين يې ستا او دا تور يې زما

***

يوې بلوندی خپل ملګری ته ناری کړه

دا جکسا( ديو انځور په زرو توټو پرې شوی او د هغو د بيرته د جوړولو ته وايي) نه جوړيږی

هغه بله چې راغله دميز سرته يي وکتله او ويل يي:

دا جکسا نه ده دا د کارنفلک (جوارو څخه جوړی شوی توټې) دی

***

يوې بلوندی په رستورانت کې کار کاوه او آه آه !ايي ژړل

د رستوران امر ترې وپوښتل:

- ولې ژاړې؟

- نن سهار تيلفون راغی زما مور مړه شوی ده، آه، آه!

-نن رخصتی غواړې؟

- نه کار کوم



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

بیا بل تیلفون راغی هغې غوږی پورته کړه او بیا په ژړا شوه: آه! آه!

-بیا څه خبره ده  ولې ژاړي؟

زما د خور مور هم مړه شوی ده. آه! آه!

***

په بار کې دریو تنو جایزه یووړه د یو جایزه یو کارتن شراب وه د بل یو کارتن ساسچ او د دریم د تشناب یو بورس وو

بله اوونی بیا درې سره یوځای شول او له هغو څخه  وپوښتل شوه:

آیا تاسو د خپلو له جایرو څخه خوند واخیست؟

لومړی وویل:  ښه شراب وو ښه خوند یې وکړ.

 دویم ویل: ښه ساسچ وو ښه خوند یې وکړی

خو د تشناب د بورس وړونکي په خوابتیا سره وویل

زه سره له ننه بیرته  د تشناب ماغذ  استعمالوم

***

یوه لیونی خودکشی کوله خو بل  یوه هغه د تشناب له تپه راویست

د مرستون آمر  هغه ته وویل:

- ستا دا میرانه د قدر وړ ده زه ستا په دوسیه کې لیکم چې ته  نور جوړ شوی یې!

هغه لیونی چې تا وژغوره له بدمرغی  بیا یې هم په غاړه کي رسی واچوله  او ځان یې غرغړه کړ

لیوني ناري کړې



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

- هو! نه  هغه نه دی مړ شوی هغه ما وځړاوه چې وچ شي

***

سهار وختی د يو کور دروازه وټکيده

ميرمنی خپل مېړه وښوراوه او ورته يې ويل:

- پاڅه ور ټکيږي!

هغه ژر کالي واغوستل او ور يې پرانيست

يو نشه يي سړی ولاړ وو او ويل يي :زه يوه  ټيله غواړم

هغه ورته وويل :

زه ورک شه  او ور يي بيرته وتړه

ميرمن يي ورته وويل:

خير دی موټر يي بند شوی او ټيله غواړي

ورشه مرسته ورسره وکړه ولی هير دی شول چې موږ موټر خراب شو اوربښت و هلکان وړی وه ،بيا موږ  هغه خلکو ته ور وټکاوه او  هغو زموږ سره مرسته وکړه راځه دواړه ورشو او مرسته ورسره وکړو

دواړو کالي واغوستل ، ور يي پرانيست او بهر ووتل او ناری يي کړل: تاسو چيری ياست؟

هغه ورته وويل:

زه په ټال کي ناست يم

***



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

پلار یو خپل زوی چی لاسونه او پښي يې نه لرلی بار ته بوت هغه چی لومړی غوړپ وکړ یو لاس يې پیدا شو په دویم غوړپ يې دویم لاس پیدا شو په دریيم غوړپ يې یو پښه او په څلورم غوړپ يې بله پښه پیدا شوه هلک کوړ کوړ کور ته رهی شو خو په لاره موټر ووهه

بار والا چی دا خبر واورید وویل:

هغه باید دومره ځبلي وای چي یوازی سر وای

***

بلوند د یوسړی څخه وپوښتل:

-څو بجي دی؟

-دوي بجي

-خدايه هر وخت چي وپوښتم ډول ډول ځوابونه راکوي.

***

یو لیونی ډاکټر ته ورغی او هغه ته يي وویل: ما سکس ځوروی

ډاکټر د غوا یو عکس ورښکاره کړه او دهغه يي وپوښتل: دا څه شی دی؟

- دا یو سړی او ښځه دی چي مینه کوي

- ډاکټر یو کارتون هغه ته وښود او يي پوښتل :دا څه شه دی ؟

- دا یو هلک او جنۍ ده چي مینه سره کوي

داکتر د ا مریکا د لوړ بلدتګ عکس وروښوداو ويي پوښته

دا څه شی دی؟



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- دا دوه میاشتې دی مینه کوي

ډاکټر ورته وویل : داسې مالومیږی چی ته سکس خوروې

ناروغ په غوسه ځواب ورکړ:

دا ته یې، چې ماته چټل چټل عکسونه را ښکاره کوې

***

یو وکیل او یوه بلونده په یو بار کې ناست وه بلوندی غوښتل ویده شی خو وکیل غوښتل پیسې پیدا کړی

وکیل وویل:

زه سوال کوم که پوښوی پینځه ډالره درکوم او که پوه نه شوې پینځه ډالره به راکوې

بلوندی ویل : زه غواړم ویده شم!

وکیل هغه نه پریښوده .

هغه نه پوهیده چې د بلوندی ځخه پیسې اخیستل لکه د ماشوم څخه چاکلیټ اخیستل دی

وکیل بیا وړاندیز وکړ

که زما به سوال پوه شوی پینځوس ډالره درکوم او که پوه نشوې پینځه ډالره به راکوې

بلوندی ومنل.

وکیل وویل: د نړی محیط څومره دی؟

- نه پوهیږم!

دا پینځه ډالره واخله

- ښه ستا وار دی .



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

- هغه څه شی دی  که  په درو پښو تيي شی په څلورمه پښه  راتاوشی

وکيل بند شو  د انتر نيت او دايره المعارف څخه يي کار واخيست پيدا نه شو نو تسليم او پينځوس ډالره يي هغې ته ورکړه .

بلوندی بيرته پينځه ډالره وکړه او ويده شوه .

***

د يو سړی مخې ته د شرابو بوتل پروت و او همداسی يي ورته کتل

يوبل سړی راغی او هغه بوتل يي په سر پورته کړ او ويي ويل

څه خبره ده قيامت شوی خو نه دی چي داسي خپه يي؟

 هغه وويل:

نن زما د ژوند ډيره خرابه ورځ ده

ولي؟

- نن سهار ناوخته له خوبه کيناستم ما عاجل ملاقات درلود هغه ونه شو

-خير بل ملاقات  جوړ کړه

-چي بهر راووتم موټر مي غلا شوی و نو په ټکسي کي کور ته  ولاړم د پيسو بکس می په ټکسی کي پاته شو

- خير دا دومره مسله نه ده .

- کورته چی ولاړم ميرمن مې د کوم بل سره ويده وه او دلته راغلم چی خودکشی وکړم او ته راغلي زما زهر دی وڅښل.

**پای**



www.tanzona.com